# مورچل

ځوارلسم کال، اتمه، پرلپسې ۱۴۴مه ګڼه،
محرم الحرام ۱۴۴۲هــ ق اګست ۲۰۲۰م




## سوله او خپلواکي
## دچا په قربانیو ترلاسه کیږي؟

**اسلامي امارت سره د دښمنۍ**
**او مقابلې دروازه باید وتړل شي**

د اسلامي امارت مرستیال او سیاسي دفتر رئیس **محترم ملا برادر اخند:**

دواړه مذاکراتي ټیمونه دې په خپلو بحثونو او پرېکړو کې
د اسلام د مقدس دین او هیواد لوړ منافع په نظر کې ونیسي!

## مذاکرات بین الافغانی یا جنگ ارزش ها؟

- واقعي سوله ژمنتیا او صادقه اراده غواړي!
- د اسلامي واکمنۍ جوړولو هدف!
- بین الافغاني ناسته کې د امارت ابتکار څه و؟
- حقاني، د وارسا او ناټو د شکست اتل
- د ایثار یوه جالبه کیسه

# مورچل

## علمي، سياسي
## او جهادي مياشتنۍ خپرونه

څوارلسم کال اتمه، پرلپسې۱۴۴مه ګڼه،
محرم الحرام۱۴۴۲هق اګست ۲۰۲۰م


## لړليک


| ګڼه | مطلب | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | سرمقاله...................................................... | ۱ |
| ۲ | بين الافغاني مذاکراتو کې د ملابرادر اخند وينا متن... | ۲ |
| ۳ | اسلامي امارت سره ددښمنۍ دروازه بايد وتړل شي.... | ۴ |
| ۴ | مذاکرات بين الافغاني يا جنګ ارزش ها؟............ | ۵ |
| ۵ | د بين الافغاني مذاکراتو پيل! دافغانانو هيلې، انديښنې | ۸ |
| ۶ | دسبتمبر ۱۱مه،کاش دامريکا وروستی عقل ړومبی وای | ۱۳ |
| ۷ | د دوه رهبرانو ترمنځ د ايثار يوه جالبه کيسه ............ | ۱۵ |
| ۸ | بين الافغاني ناسته کې د امارت ابتکار څه و؟ ........... | ۱۷ |
| ۹ | واقعي سوله ژمنتيا او صادقه اراده غواړي.............. | ۱۸ |
| ۱۰ | د اسلامي واکمنۍ جوړولو هدف!...................... | ۲۱ |
| ۱۱ | حقاني، د وارسا او ناټو د شکست اتل ................ | ۲۵ |
| ۱۲ | ولسمشر ټرمپه ! زما ترې تم ورور تر شا مه پريږده !!........ | ۲۷ |
| ۱۳ | په جهاد کې زموږ اخلاق/صبر او مشلاتو سره مقاومت | ۲۹ |
| ۱۴ | طالب پلاوی دهيواد د ټولو اقشارو رښتونی ممثل.... | ۳۴ |
| ۱۵ | د کدرونو په روزنه کې دقائد پېغمبر ﷺ کردار........ | ۳۷ |
| ۱۶ | لويديځ کې د توهينونو لړۍ او د مسلمانانو چوپتيا.... | ۴۲ |
| ۱۷ | د احد په غزا کې، دعاشقانو سيالي....................... | ۴۵ |
| ۱۸ | د مورچل دار الافتاء .................................. | ۴۹ |
| ۱۹ | آيا طالبان به افغانستان ته فاتحين ننوځي.............. | ۵۱ |
| ۲۰ | د۲۰۲۰م کال د اګست مياشتې جهادي خبرونه....... | ۵۴ |



**د امتياز خاوند**

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کميسيون

**مسؤل مدير**

صلاح الدين "صارم"

**کتـــنپلاوی:**

ايـــوب صـــافي
معيـن احـــمد
حســــن زوی
حکــــمت
حافـظ سعـيد
موسی فرهـــاد

**تخنيکي چارې**

دفرهنګي کميسيون تخنيکي څانګه

**مکاتباتي ادرس**



پته: کابل ښار، پنځمه حوزه، دمجلې دفتر
*E-mail:* morchalmorchal@yahoo.com

بسم الله الرحمن الرحیم

# سوله او خپلواکي

## دچا په قربانیو ترلاسه کیږي؟

د هیواد دقضیې په اړه چې سیاسي فضاء نن بیا ډېره له شراوشوره ډکه ده، هر څوک په حرکت راغلي او هڅه کوي که په سیاسي چنه بازیو کې یې څه ترلاسه کړل او فکر کوي ننۍ فضاء هم د ځینو شرایطو له مخې رامنځته شوې چې دچا دقصدي هڅو او قربانیو څه دخل پکې نشته، ځکه یې تر بل هر چا ډېر شور جوړ کړی او د غټې برخې غوښتونکي دي .

خو که دامریکایانو اوناټو د اشغال په وړاندې له تېرو شلو کلونو څخه دا جهاداومبارزه لرې کړو، څه فکر کوئ! نن به وضعیت څه ډول و؟! ایا افغانانو ته به مو دامریکایانو ننی تنزل لیدلی و ؟ هغه عزت اومقام چې افغانستان او افغانانو ته اوس ورپه برخه کیږي، بیابه هم ترلاسه شوی و ؟

نه! هیڅکله نه !

دا یواځې اویواځې دهغه مجاهد دسربښندنو، قربانیو، زولنو، هجرتونو او وینو له برکته ده چې د یویشتم قرن زورورو اشغالگروته تسلیم نه شو او د دوی په وړاندې یې دجهاد غر پورته کړ، هغه مهال نړدې ټولې نړی د امریکایانو او اشربانو په وړاندې یې دمقابلې اراده لېونتوب اوحماقت گاڼه، خو د ده عزم، قاطعیت او ټینگ ایمان بیا ننی ورځ لرې نه بلله که څه هم دخپلواکۍ په دغه اغزنه لارکې یې کور کنډواله، جومات شهید، مدرسه ورانه او ښکلې ځوانۍ خاورې کړه، خو نن یې دهمدغو قربانیو په مټ او دولس په ټول ملاتړ دهیواد استقلال اوخپلواکۍ منلو ته اشغالگر په گونډو کړل .

د دغو قربانیو سرپرستي چې په کوم قیادت کې ترسره شوې هغه دافغانستان اسلامي امارت هغه وسیع بنیاد او داسلامي ارښتونو دساتنې مُضمِن چوکاټ دی چې دافغانستان ټول قومونه او ملتونه پکې راټول دي اودمقاومت په تېرو شلوکلونو کې یې دمشرتابه تر مقام پورې دایثار، قربانۍ او صداقت جوت امتحان ورکړی .

بین الافغاني مذاکرات پیلول او دمشرتابه ترمقامه حضور پکې داسلامي امارت یوه بله قرباني ده چې هیواد ته دسولې اوحقیقي خپلواکۍ په راستنېدوکې یې ورکوي، که نه داشغال په وړاندې مقاومت او د مقاومت په بریالیو متو اشغالگر له هیواده وېستلو ته اړکول؛ اسلامي امارت ته بلا منازعې د دې حق ورکوي چې دافغانستان راتلونکی نظام تشکیل کړي، خو بیا هم داسې نه کوي او له افغاني جهتونو سره په گډه ناسته په افغانستان کې دیوه مستحکم اسلامي نظام رامنځته کولو لپاره یې دبین الافغاني مذاکراتو دائرولو ته اولیت ورکړ، نن که سوله، امنیت او خپلواکي ترلاسه کیږي څوک یې په خیرات کې مونږ ته نه راکوي، بلکې داسلامي امارت دسپینو لښکرو دبې مثاله قربانیو ترڅنگ دسیاسي قربانۍ په برکت ترلاسه کیږي .




## د بين الافغاني مذاکراتو د پيل په مراسمو کې د اسلامي امارت

### د مرستيال او سياسي دفتر رئيس

# محترم ملا برادر اخند د وينا متن

الحمدلله وکفی والصلوة والسلام علیه رسوله المجتبی، امابعد:

فاعوذ بالله من الشيطن الرجيم، بسم الله الرحمن الرحيم

(و اعتصموا بحمبل الله جمعيا ولا تفرقو) الاية و ايضا قال الله تعالی:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنكُمْ ۖ فَإِن تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ وَالرَّسُولِ إِن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ۚ ذَٰلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلًا ﴿٥٩﴾

تر هرڅه مخکې د دې درانه مجلس ټولو ګډونوالو ته!


السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

خوښ يم چې د افغانستان اسلامي امارت او د امريکا د متحده ايالاتو د تاريخي توافقنامې د امضاء په تعقيب سره د افغانستان ځلويښت کلنې معضلې پای ته د رسولو او يو اسلامي نظام د قيام په موخه د بين الافغاني مذاکراتو د افتتاحيې غونډې ګډونوال يو.

د سولې روان بهير د دوحې د تړون په بشپړ عملي کولو سره کاميابيدلای شي.

اسلامي امارت د دوحې په تړون کې کړې ژمنې عملي کړي دي او عملي کوي يې.

همدا رنګه له مقابل لوري څخه هم په کلکه غوښتنه کوي چې په تړون کې کړې ژمنې عملي کړي، ترڅو د سولې پروسه ښه



پرمخ ولاړه شي، او له خنډ او ځنډ سره مخ نشي.

زه په دې مجلس کې له حاضرو دواړونو ټیمونو څخه غوښتنه کوم چې په خپلو بحثونو او پریکړو کې د اسلام د مقدس دین او هیواد لوړ منافع په نظر کې ونیسي- او دغه هدف ته رسیدل باید د ډلو او ټپلو او اشخاصو تر شخصي منافعو قرباني نه کړي.

د مذاکراتو جریان به خامخا ستونزې ولري، خو غوښتنه مو داده چې بحثونه په پوره حوصله او زغم او له موضوعاتو سره د ښه تعامل په نظر کې نیولو سره پرمخ ولاړ شي.

د افغانستان اسلامي امارت خپل ځوریدلي ملت ته ډاډ او اطمینان ورکوي چې په پوره اخلاص سره به د بین الافغاني مذکراتو په جریان کې کوښښ وکړي چې خپل مسلمان ملت ته د سولې، آرامۍ او سوکاله ژوند لپاره زمینه برابره کړي.

همدا رنګه نړۍ ته اطمینان ورکوي چې پخپل توان سره به هلې ځلې وکړي ترڅو بین الافغاني مذاکرات ښه نتیجه ورکړي.

موږ غواړو چې افغانستان خپلواک، مستقل، متحد، پرمختللي او آزاد هېواد وي او یو داسې اسلامي نظام ولري چې د ولس ټولې برګنې پکښې د کوم تبعیض پرته خپل ځان ووینې او د یوبل سره د ورورۍ په فضا کې په پوره صممیت سره ژوند وکړي.

موږ غواړو چې افغانستان په آینده کې د ګاونډیو، سیمې او نورې نړۍ له هیوادونو سره مثبتې، په متقابل احترام ولاړې او ښې اړیکې ولري.

په پای کې د قطر کوربه هیواد د محترم امیر، محترم خارجه وزیر، حکومت او ملت څخه او همدا رنګه د نورو هغو هیوادونو څخه چې زموږ سره یې د سولې په اړه هر اړخیزه همکاري کړې او کوي یې د زړه له کومې مننه کوم.

والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

ملا عبدالغني برادر د اسلامي امارت

سیاسي مرستیال او د سیاسي دفتر رئیس

۱۴۴۲/۱/۲۴هـ ق

۱۳۹۹/۶/۲۲هـ ش ـ ۱۲/۹/۲۰۲۰م



# اسلامي امارت سره دښمنۍ او مقابلې دروازه باید وتړل شي

م مبصر

دکابل ادارې دسولې دعالي شورا مشر عبدالله دوژل شوي احمدشاه مسعود ۲۰ تلین ته په خبروکې وویل نور هغه وخت راغلی چې له طالب سره دمقابلې او جنګ په ځای دسولې او تفاهم لار ونیولای شي او د دښمنۍ صفحه وتړل شي.

دعبدالله داخبري او بیا دمسعود شلم تلین ته دااظهارات رښتیا هم لوی بدلون دی، ځکه له تېرو نولسو کلونو راهیسې دهمدغو څیرو او ډلو ټپلو همدا یو شعار لاره چې طالب ددوئ په قضاوت دژوند او سیاست حق نلري او په دې لاره کې یې دخپلو بادارانو په مټ هر هغه سه ترسره کړل چې په وس یې پوره ول خو اوس ورسره د دښمنۍ د صفحې تړلو غوښتنې کوي.

دا هیله بخښونکې ده چې پخپله یرغلګر او د هغوی کورني ملاتړي اوس یو بل ته، یا په ښه نیت او یا هم له مجبورۍ، له اشغال-ضد افغانانو سره د دښمنۍ پرېښوولو توصیې کوي.

د تکبر او عناد پر نېلي سپرو کسانو ته د هغو خلکو توصیې چې نږدې دوې لسیزې یې د طالب په دښمنۍ کې تېرې کړې که څه هم د تقدیر وړ دي، خو طبیعي ده چې دا څرګندونې یې د اشغال د اولنیو شپو دریځونه او حالات انسان ته ورپه یادوي – هغه وخت کله چې نړیوالو او کورنیو ملاتړو یې د اشغال پر ضد جنګېدونکي افغان ته د ژوند حق نه ورکاوه او قبر یا زندان یې یوازینی ځای ورته ټاکلی و. الله تعالی فرمایي: وَتِلْكَ الْأَيَّامُ نُدَاوِلُهَا بَيْنَ النَّاسِ (موږ دا ورځې د خلکو په منځ کې اړوو را اړوو). رښتیا هم ورځې واوښتې-راواوښتې، تور او سپین معلوم شول او هغه خلک سرفراز پاتې شول چا چې له خپل دین او ملت سره خیانت ونکړ.

اوس چې نړیوال او ملاتړي یې د جهان اوسیاست له صفحې د افغانانو په محوه کولو کې ناکام شول، رښتیا هم د عناد، سرزورۍ او بېځایه اختلاف له نېلي د راکښته کېدو او د عقل او منطق لارې ته د راګرځېدو وخت یې رارسېدلی دی. دا حساس حالات خصوصًا له افغانانو د یو کېدو، د یو بل منلو او له خپلو دیني او ملي ارزښتونو د ساتنې لپاره د یو موټي کېدو غوښتنه کوي. خدای پاک دې وکړي چې نور تېروتي کسان هم د کابل ادارې د مخکیني یاد شوي یوه مشر په قدم روان شي؛ په دې ډول به یې تر څه حده د پخوانیو تېروتنو جبران کړی وي.




# مذاکرات بین الافغانی یا جنگ ارزش‌ها؟

حبیبی سمنگانی

حامیان صلح خوشحال اند که جنگ ۱۹ ساله امریکا و ۴۳ ساله افغانستان به پایان می‌رسد، اما به نظر می‌رسد که مذاکرات بین الافغانی به جنگ دفاع از ارزش‌ها تبدیل شده و گویا به هر قیمت باید از ارزش‌ها و یا دستاوردها پاسداری شود، حتی به قیمت صلح!

به تعبیر بعضی‌ها؛ مذاکرات بین الافغانی در حقیقت جنگ جمهوریت و امارت است. جمهوریت خواهان با شد و مد به کارزار تبلیغاتی شتافته‌اند و شعار می‌دهند که جمهوریت را هرگز قربانی صلح نخواهند کرد. امرالله صالح، معاون ریاست جمهوری اداره کابل چندی پیش در مصاحبه‌اش با طلوع نیوز تصریح کرد که ما در جنگ نمادها و سمبول‌ها قرار داریم و از نمادها و سمبول‌های خود هرگز نمی‌گذریم. وی به‌خصوص از جمهوریت مکررا یاد کرد.

اما طالبان با اینکه برنده میدان نظامی اند و در مذاکرات با امریکایی‌ها نیز به نتیجه دل‌خواه خود رسیده اند و با مورال بلندتر وارد مرحله گفتگوهای بین الافغانی می‌شوند، به‌جای پافشاری به‌عنوان «امارت» بر آوردن نظام اسلامی تاکید می‌ورزند. سخنگوی امارت اسلامی ذبیح الله مجاهد در مصاحبه‌هایش گفته است که بر نام می‌توان توافق کرد، اما نظام خالص اسلامی قابل معامله نیست.

حامیان جمهوریت اصرار بر بقای نظام کنونی کابل دارند و همواره از دستاوردهای هجده ساله و نزده ساله حرف می‌زنند. آن‌ها آزادی بیان، آزادی مذهب، حقوق زنان، تعدد احزاب سیاسی، انتخابات و..... را از ارزش های جمهوریت و یا نظام کنونی کابل می‌دانند.

البته؛ حقیقتی که نمی‌توان آن را نادیده گرفت و بسیاری حامیان سرسخت دموکراسی هم بر آن اعتراف دارند اینست که جمهوریت در افغانستان در ظرف تقریبا دو دهه نه تنها به پای خود ایستاده نشده، بلکه درین سالیان اخیر به‌جای سیر صعودی سیر نزولی داشته و روزبه‌روز از حمایت مردمی آن کاسته می‌شود. عدم اشتراک و یا مقاطعه مردم در انتخابات‌های ریاست جمهوری و پارلمانی، دلیل روشن این واقعیت است.

اگرچه نزده سال پیش، جمهوریت به زور بی۵۲ امریکا و جنگ‌سالاران جنایت‌کار، که هیچ آشنای و وابستگی با جمهوریت نداشتند، به

افغانســتان وارد و روی کــار شــد، امــا پنداشــته می‌شــد کــه شــاید بــا مــرور زمــان ارزش‌هــای جمهوریــت دریــن کشــورِ ســنتی و دین‌پــرور، نهادینــه شــود. امــا اکنــون کــه بــا بیــرون شــدن نظامیـــان اشـــغال‌گر از افغانســـتان پایـــه‌های جمهوریت به لرزه آمده، دیده می‌شود که یکبار دیگر به شانه های جنگ‌ساالران نیاز دارد.

در حقیقت، سفر جمهوریت در افغانسـتان مرهون حمایت همه‌جانبه اشغال‌گران بـوده و از روزی‌کــه اشــغال‌گران دســت از افغانســتان شســته‌اند، جمهوریــت نیــز خــود را بی‌یــار و مــددگار می‌پنــدارد. اگــر واضــح‌تر بگــوئیم اصــلا جمهوریت در افغانستان به‌حیث ابزار استعماری به‌کار برده شد و هدف واقعی امریکا و متحدان آن، پــوش دادن نظــام اســتعماری و اســتبدادی خود بود. چون جمهوریت برای این کار به خـوبی تن داد، شاید یکـی از عوامـل عمـده حساسـیت افغان‌ها در برابر جمهوریت هم همین باشد.

افغان‌هـــا از هـــمان ســـال‌های اول می‌دانســتند کــه انتخابــات و شــعارهای حقــوق بشرــ و زنــان و آزادی بیــان، همــه ســاختگی و به‌دور از واقعیت‌ها است. از همینست که امروز هرگـــاه جمهوریـــت خواهـــان از بربـــاد رفـــتن دســتاوردهای چنــد ســاله می‌نالــد، افغان‌هــا بــا آن‌هــا همصــدا و همنــوا نیســتند. امــا عجــب‌تر اینست که جمهوریت خواهان هنـوز هـم بـه‌جای مراجعه به مردم، پناه بـردن بـه جنگ‌سـاالران را ترجیح می‌دهد و یـا هـم بـه کمپـاین مخصـوص رسانه‌یی اکتفا می کند.

مشــکل جمهوریــت قلابــی اینســت کــه بــر علاوه از مشروعیت دینـی، مشرـوعیت اخلاقـی و مردمی هم ندارد. آغاز پروسه ملیشـه سـازی بـا توزیـــع اســلحه در کابــل و ولایــات مرکــزی و شمالی، بیان گر اینسـت کـه جمهوریـت خواهـان به جای نیروی مردمی، بـه بـازوی جنـگ سـاالران اتکا دارند.

این را هم نمی‌توان نادیده گرفت کـه یـک بخـش بـزرگ حـامی جمهوریـت، کـه غنـی و تـیم اوست، با عمل‌کرد توجیه ناپـذیر خـود در برابـر پروسه صلح، ثابت کرده‌اند که اصلا صـلح را بـه معنای نابودی و فروپاشی خود می‌دانند و بـا دل ناخواسته و یـا هـم بـه جبر بـه سـوی مـذاکرات می‌رونـد. عـدم علاقه‌منـدی ایشـان بـه صـلح و مذاکرات نشـان می‌دهـد کـه «جمهوریـت» دوام جنگ و اشغال را برای بقای خود ناگزیر می‌داند.

فاصله میان جمهوریت خواهـان داخـل ارگ و بیرون ارگ نیز مشکل عمده این جهـت اسـت. زیرا ارگ‌نشینان با همه شعارهای تند و تیـز، در حقیقت در فکر جمهوریت نه، بلکه بقای قـدرت خود اند و آن‌ها درین راسـتا آمـاده هسـتند بـه اقشار غیر جمهوری به‌خصوص جنگ‌ساالران هـر گونه امتیاز قایل شوند. امـا جمهوریـت خواهـانِ بیـــرون از ماموریـــت هـــای ارگ و یـــا دموکراتـــان واقعی، فکر می‌کنند کـه از جمهوریـت بـار دیگـر استفاده ابزاری می‌شود.

از برخورد ارگ‌نشینان و نیز از تحلیل فوق دانسته می‌شود که آن‌هـا از لحـاظ روانـی آمـاده نیستند که در آن‌سوی میز مـذاکرات بنشـینند و گویا از دستاوردهای جمهوریت دفاع کنند.

اشرف غنی در اوایل ماه اسـد ۱۳۹۸ شـورای عـالی صـلح را، کـه در سـال ۱۳۸۹ از سـوی حامـد کرزی بـه ریاسـت پروفیسـور برهان‌الـدین ربـانی ایجاد شـده بـود، لغو کـرد. وی چنـدی پـیش ازان وزارتی را به‌نام وزارت امور صلح ایجاد کرده بود و رئیس دفـتر خـود عبدالسـلام رحیمـی را بـه‌حیث وزیر صلح گماشته بود.

درین اواخر هرگاه بر مبنای توافق تقسیم قدرت میان غنی و عبدالله، امور صلح به عبدالله تعلق گرفت. اشرف غنی با اعلان شورای مصالحه ملی تلاش کرد امور صلح را در کنترول خود داشته باشد. اما انکار حامدکرزی، حکمت‌یار، صلاح‌الدین ربانی و عبدالرشید دوستم از عضویت در آن شوری، و همچنان واکنش تند عبدالله در برابر فرمان غنی، که صدور فرمان این حق اوست نه غنی، مشروعیت شورای متذکره را زیر سوال برد. حامد کرزی نیز درین مورد از عبدالله اعلان حمایت کرد. قابل ذکر است که غنی با گماشتن عبدالسلام رحیمی به‌حیث معاون شوری و همچنان شمولیت صالح، دانش، محب، اتمر و.... تلاش کرد از نفوذ عبدالله در شوری بکاهد. مهم‌تر اینکه اختیار فیصله و تصمیم نهایی را هم به‌خود تخصیص داد، نه رئیس شوری یعنی عبدالله عبدالله.

حالا وضعیت طوری است که یکی شورای مصالحه ملی است که از سوی غنی ایجاد شده و جنجالی است. دوم وزارت صلح است که به نیمه دوم ارگ به رهبری عبدالله تعلق گرفته و سید سعادت منصور نادری به‌حیث وزیر آن گماشته شده است. سوم تیم مذاکراتی است که به ریاست معصوم ستانکزی از سوی غنی اعلام شده و چهارم اپوزیسیون اداره کابل به خصوص صلاح الدین ربانی، حکمت‌یار و برخی دیگران هستند که ادعای مذاکرات مستقل و علیحده با طالبان دارند و از تیم مذاکراتی ارگ مخالفت کرده اند.

تشکیل تیم قوی‌تر مذاکراتی از سوی طالبان نیز جمهوریت خواهان را به حالت دفاعی آورده‌است. طالبان با افزودن چند تن چهره‌های با نفوذ علمی، سیاسی و نظامی در تیم خود، حتی مخالفان را هم به این معترف ساخته اند که تیم طالبان قوی‌تر شده است.

همچنان روش طالبان از آغاز مذاکرات با امریکایی‌ها و پس از امضای پیمان با آن‌ها، خیلی‌ها جدی، منطقی و پاک از هر گونه جنجال‌های بین خودی بوده است. این چیزی است که به اعتبار طالبان در عرصه سیاسی بسیار افزوده و برای بسیاری‌های که شناخت سطحی و غیر واقعی از طالبان داشتند، شگفت‌آور بوده است.

طالبان تا اکنون بر همان دو هدف اصلی شان تمرکز داشته‌اند، که پایان اشغال و حاکمیت نظام اسلامی است. این هم از موفقیت طالبان است که با کمال تحمل و تدبیر، موانع سر راه صلح، پایان اشغال و مذاکرات بین الافغانی را که از سوی اداره کابل ایجاد می‌شد، یکایک برداشته‌اند و به سفر خود دوام داده اند.

این در حقیقت طالبان را مورال بخشیده است که می‌توانند پیش‌رفت مطلوبی در مراحل بعدی توافقنامه امضا شده با امریکا داشته باشند. گویا سفر طالبان به منظور رسیدن به اهداف والای شان تا هنوز علی‌رغم همه مشکلات و موانع، به‌خوبی پیش رفته‌است.

در پایان، باید گفت که گزینه بهتر بلکه ناگزیر برای رسیدن به صلح واقعی و دائمی در کشور همینست که جانبین به‌جای شعارهای به‌دور از واقعیت‌ها، بر حاکمیت نظام خالص اسلامی توافق نمایند و همه جهت‌های افغانی سرنوشت خود و ملت را زیر چتر آن، مصئون و مامون بسازند.

با شعارهای جنگ ارزش‌ها و مقابله امارت و جمهوریت نباید بار دیگر سر راه صلح سنگ انداخت. آرمان افغان‌ها ۴۰ سال پیش هم نظام اسلامی بود، ۲۰ سال پیش هم و امروز هم، و باید به این آرمان دیرینه با یکصدا ارج گذاشت.



ابوظهیر

# دبين الافغاني مذاکراتو پيل!

## دافغانانو هیلې او اندیښنې!

له اوږده ځنډ وروسته د شنبې په ورځ، ستمبر په ۱۲مه د قطر پلازمېنې (دوحې) په شراټن هوټل کې د افغانستان اسلامي امارت د مرکچي پلاوي او د مخالف جهت مرکچي پلاوي ترمنځ مخامخ بين الافغاني خبرې شروع شوې.

د مذاکراتو په پرانستونکې غونډه کې د افغانستان اسلامي امارت سياسي مرستيال او د قطر د فتر رئيس ملاعبد الغني برادر اخند په مشرۍ د امارت د مذاکراتي ټيم غړو، او د قطر سياسي د فتر غړو په ګډون سربيره د کابل نه دمختلفو احزابو او جهتونو مذاکراتي پلاوي غړو،د امريکا د بهرنيو چارو وزير مايک پيمپو،دامريکا د بهرنيو چارو وزارت ځانګړي استازي زلمي خليل زاد او د قطر هيواد دبهرنيو چارو وزير او نورو چاروا کو ګډون درلود

ديا دونې وړده چې د بين الافغاني مذاکراتو په دوران کې د افغانستان اسلامي امارت د۲۱ کسيز مرکچې پلاوي مشرې شيخ الحديث مولوي عيد الحکيم حقاني کوي،او د مخالف جهت د ټيم مشرې معصوم ستانکزی کوي

د مذاکراتو پرانستونکې غونډې ته د قطر د بهرنيو چارو وزير او د لومړي وزير د مرستيال سلطان بن سعد المريخي په پيليزه وينا سربيره د افغانستان اسلامي امارت په استازولۍ ملا عبد الغني برادر او د مخالف جهت په نماينده ګۍ ډاکټر عبد الله همدا راز د امريکا متحده ايالاتو په استازيتوب د امريکا د بهرنيو چارو وزير مايک پمپيو ويناوې وکړې

د افغانستان اسلامي امارت سياسي مرستيال ملا برادر اخند پخپله جامع ويناکې د سولې په ضرورت،اهميت او ارزښت باندې درڼا اچولو په ترڅ کې د رښتينې سولې په راوستلو د ټينګار سربيره د دواړو غاړو مذاکراتي ټيمونو ته په پوره حوصله او زغم سره دسولې بهير د مخکې بيولو توصيه وکړه او هم يې افغانانو او نړۍ ته د سولې په برخه کې د اسلامي امارت له اړخه درغنده کردار ډاډ ورکړ،چې هيواد ته د سولې راتلو په لارکې به پخپل ټول توان زيار و باسي چې بين الافغاني خبرې مثبتې پايلې ورکړي

د مخالف جهت په استازولۍ ډاکټر عبد الله وینا وکړه اوغوښتنه یې وکړه چې دوی هیلمن دي چې یوبشري اوربند رامنځته شي اوژمن دي چې د سولې راتلو لپاره به کوښښونه کوي

پرانیستونکې غونډې ته د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پمپیو پخپله ویناکې وویل: د امریکا متحده ایالات نه غواړي خپل نظام په نورو ومني، دابه افغانان پخپله حل کوي او هم دلته په هر ې کېدونکې پریکړې پورې د امریکا دمرستو حجم هم اړه لري .

له و یناوو وروسته د افغانستان اسلامي امارت د مرکچې پلاوي مشر- مولوي عبدالحکیم حقاني له بي بي سي سره په خبرو کې وویل، د سولې خبرو ته ځکه هیله من دی چې افغانانو تېرې ناخوالې او ترخې تجربې لیدلې دي. نوموړي وویل،'' پر اوربند به دمیز په سر خبرې کېږي چې کله دواړه خواوې مخامخ مذاکرات پیل کړي'' .

## بین الافغاني خبرې چا وځنډولې؟

ټاکل شوې وه چې بین الافغاني خبرې د فبرورۍ میاشتې په ۲۹ مه نېټه د امریکا او د افغانستان اسلامي امارت تر منځ د هوکړې له امضاء وروسته په مارچ کې پیل شوې وای، خو د کابل ادارې لخوا د بندیانو په خوشې کولو کې دغیر مناسب رویې او ځنډ له کبله تراوو میاشتو وځنډېدې

خو د پنجشنبې پر ورځ قطر ته د ورو ستیو شپږ تنو بندیانو له رسیدو وروسته د افغانستان اسلامي امارت د شنبې ورځې په مخامخ خبرو کې د ګډون اعلان وکړ.

دلته د یادونې وړده چې د امریکا متحده ایالاتو او د افغانستان اسلامي امارت تر منځ په قطر کې هوکړه لیک لاسلیکولو ته رسېدو د یو کال نه زیات وخت ونیو او ډېرى شنونکي اوس هم په دې اند دي چې بین الافغاني خبرې ښایي تر هغه هم ډېرې پېچلې او زیات وخت ونیسي.

دکتونکو په نظر دا خبرې د دواړو جهتونو لپاره ننګوونکې بلل کېږي، ولې اړتیا ده چې دواړه پلاوي د افغانستان دراتلونکي لپاره ثابت او قانع کوونکي سیاسي نظریات وړاندې کړي. دعقدو اوعنادونو له لید څخه په ډ ډه کولو سره باید لانجمن قضایا تحلیل او تعبیر کړي، یا پر بل سپیناوي اړتیا ده چې دواړه طرفه د واقعیتونو په هنداره کې ستونزو ته په کتو سره حل لارې ولټوي نه داچې د ګوندي او تنظیمي غوښتنو له مخې واقعیتونه سرچپه تعبیر وتفسیر کړي.

ترکومه ځایه چې د افغانستان اسلامي امارت سیاسي دریځ دی، هغه دادی چې افغانستان یو داسې اسلامي هیواد دی چې دتیرو څلورو لسیزو راهیسې یې متدینو اوپه دین باندې مینو وګړو د اسلامي نظام د حاکمیت لپاره بیدریغه قرباني ورکړې دي، او په دې لاره کې یې نه بیانیدونکې ستونزې او مشکلات زغملي دي، نوحتمي ده چې هرکله د دو مره لویو قربانیو وروسته د سولې او مذاکراتو له لارې د څلور لسیزو ناخوالو ته د پای

ټکـی اینښـودل کېـږي د اسـلامي نظـام حاکمیـت موضوع به د دواړو غاړو تـرمنځ "ما بـه لاشـتراک" موضوع وي او دکوم چون چرا پرتـه بـه یـې دواړه لوري مني، ځکه افغانان د اسلامي نظام دحاکمیت پرته په بل څه راضایت او قناعت نلري. پکارده چې دواړه لـوري داسـلامي نظـام دحاکمیـت موضـوع سطحي ونه ګڼي او ورته کماحقه توجه وکړي.

پـه دې لړکـې د امریکـا د بهرنیـو چـارو د وزیرمایک پمپیو داخبره چې دامریکا متحده ایالات نه غواړي خپل نظام پـه نـورو ومنـي، ډېر ښښـونکې ده چې بهرني هیوادونه پـه خاصـه توګـه امریکـا د نظـام غـوره کولـو پـه برخـه کـې د خپلـې پخوانۍ تګلارې څخه په شا شوې ده او پـه راتلونکي کـې نه غواړي چې د تیـر پـه څیـر پـه افغانـانو لـه بهـره کوم نظام تحمیـل کـړي، بـل پلـو تـه د افغانسـتان اسـلامي امـارت ویانـد ښـاغلي مجاهـد شمشـا د تلویزون سره مرکـه کـې پـه صراحـت سره وویـل: چې د نظام جوړولـو پـه برخـه کـې افغانـان قطعـاً د خارجیانو مداخله زغملی نه شي، او د اسلامي نظام تشریح او تعبیر موضـوع پخپلـه د افغـاني علـماوو، پوهانو اوسیاسیونو پـورې اړه لـري نـه تـر بهرنیـانو پورې.

د افغانستان اسلامي امارت له خپله اړخـه پـه مذاکراتو کې د ښه نیت ښودو لپاره د د کابـل اداري اړوند ۲۲ عسکر له زندانونو خوشي کړل.

دښاغلي مجاهد په وینا، اسلامي امارت هڅـه کوي د بین الافغاني مذاکراتو د جریان چټکولو او د بـاور فضـا رامـنځ تـه کېـدو لپـاره داسـې ګامونـه واخیستل شي څو یاد بهیر خپلې مطلوبې پایلې تـه ورسوي او پـه هېـواد کـې د بشـپړ اسلامي نظام د حاکمیـت او د تـل لپـاره د جګـړې د اختتـام سـبب وګرځي.

نومورې له مقابل لوري نه هم هیله کړې چې د باور فضا رامنځتـه کولـو لپاره دي دوی هـم ورتـه ګامونـه واخـلي اولـه فرصـتونو دي سـالمه او ښـه استفاده وکړي

دکتونکو په نظر د مذاکراتو پرانیسـتو غونـډه کــې د افغانســتان اســلامي امــارت د ســیاسي مرستیال "ملا عبد الغني برادر اخنـد" وینـا: ترډیـره رغوونکې اوراتوله وه وېناوه، او ټکی پـه ټکـی یـې د سولې خـبرو لپـاره یـې دبـا ور رامنځتـه کولـو پیغـام لاره، چې دلته یې مهم ټکي یې له لوسـتونکو سره شریکوو:

= خوښ یم چې د افغانستان اسلامي امـارت او د امریکا د متحده ایالاتو د تـاریخي توافقنـامې د امضاء په تعقیب سره د افغانستان څلویښت کلنـې معضلې پای ته د رسولو او یو اسلامي نظام د قیـام پـه موخـه د بـین الافغـاني مـذاکراتو د افتتـاحیې غونډې ګډونوال یو.

= د سـولې روان بهیـر د دوحـې د تـړون پـه بشپړ عملي کولو سره کامیابیدلای شي.

= اسلامي امارت د دوحې په تـړون کـې کـړې ژمنې عملي کړي دي او عملي کوي یې.

= همدا رنګه له مقابل لوري څخه هم په کلکه غوښتنه کوي چې په تړون کې کړې ژمنې عملي کړي، ترڅو د سولې پروسه ښه پرمخ ولاړه شي، او له خنډ او ځنډ سره مخ نشي.

= زه په دې مجلس کې له حاضرو دواړونو ټیمونو څخه غوښتنه کوم چې په خپلو بحثونو او پریکړو کې د اسلام د مقدس دین او هیواد لوړ منافع په نظر کې ونیسي او دغه هدف ته رسیدل باید د ډلو او ټپلو او اشخاصو تر شخصيـ منافعو قرباني نه کړي.

= د مذاکراتو جریان به خامخا ستونزې ولري، خو غوښتنه مو داده چې بحثونه په پوره حوصله او زغم او له موضوعاتو سره د ښه تعامل په نظر کې نیولو سره پرمخ ولاړ شي.

=د افغانستان اسلامي امارت خپل ځوریدلي ملت ته ډاډ او اطمینان ورکوي چې په پوره اخلاص سره به د بین الافغاني مذکراتو په جریان کې کوښښ وکړي چې خپل مسلمان ملت ته د سولې، آرامۍ او سوکاله ژوند لپاره زمینه برابره کړي.

= همدا رنګه نړۍ ته اطمینان ورکوي چې پخپل توان سره به هلې ځلې وکړي تر څو بین الافغاني مذاکرات ښه نتیجه ورکړي.

=موږ غواړو چې افغانستان خپلواک، مستقل، متحد، پرمختللي او آزاد هېواد وي او يو داسې اسلامي نظام ولري چې د ولس ټولې پرګنې پکښې د کوم تبعیض پرته خپل ځان ووینې او د یوبل سره د ورورۍ په فضا کې په پوره صمميت سره ژوند وکړي.

=موږ غواړو چې افغانستان په آینده کې د ګاونډیو، سیمې او نورې نړۍ له هیوادونو سره مثبتې، په متقابل احترام ولاړې او ښې اړیکې ولري.



که هر څوک د تعصب اوعقدې چشمې لري وغورځوي او په واقعبینانه نظر پورتني فقرات ولولي نو لفظ، په لفظ ور څخه د مذاکراتي بهیر د ډاډ منولو وږمې ځي؛ د اسلامي نظام او ملي منافعو خوندي کولو ته د والویت په اړه ډاډ ورکوي، نړیوالو او ګاونډیانو ته په متقابل احترام د ولاړو اړیکو پیغام ورکوي، دهیواد دخپلواکۍ، استقلال او پرمختیا په هوډ د اسلامي نظام په سیوري کې له هر ډول تبعیض پرته ټولو ولسونو اوپرګنو ته د صمميت او ورورۍ په فضاکې د ژوند وعده ورکوي او په دواړو مذاکراتي ټیمونو غږکوي چې په زغم او حوصلې سره دې پر موضوعاتو باندې بحث په پام کې ونیسي.

هرچې د مخالف جهت له اړخه د عبد الله وینا وه هغه د کوم تعصب پرته کمزورې اویوه ګډوله وینا وه چې "وچ -و لامده" دواړه پکې ګډ و، د سولې او مذاکراتو په اړه د باور فضارامنځته کولو پیغام ورکولو پرځای یې ډیره برخه دخپلې تلوالې شعارونو ته ځانګړې وه او په ډیر سطحي نظر یې د سولې د تاریخي بهیر ارزونه کړې وه، تردې چې په خواله رسنیوکې پخپله دکابل رژیم د ملاتړو کو ونکو لخوا هم دعبد الله وینا دنهیلیو ډکه وینا بلل شوې اوپه مقابل کې یې د ملابرادار اخند وینا یوه جامعه او د مقتضی الحال سره برابره او با معنی وینا بللې ده.

اوس پوښتنه داده چې ایا روان مذاکراتي بهیر به ژر کومې مثبتې ته ورسیږي؟ په دې اړه کارپوهان ډاډنلري هغوی وایي د امریکا او اسلامي امارت ترمنځ چې نوولس کاله سخته جګړ شوې وه؛ کله چې دواړو لوریو غوښتل چې سیاسي حل ته سره ورسېږي، نو د یو کال نه په زیاته موده کې د سختو مذاکراتو وروسته یو حل ته سره ورسېدل.

او هرچې د افغان جهتونو ترمنځ د مذاکراتو د بري خبره ده، دا ډیر د دواړو لوریو د سولې په اړه نیت پورې هم اړه لري؛که پکې یو لوری هم د سولې لپاره رښتینی نیت ونلري، نوهره شیبه مذاکرات له ناکامۍ سره مواجه کیدای شي. البته دا ناکامي به بد مرغه پایلې ولري . چې له امله به یې افغان ولس خدای مکړه د یوبل بد ناورین او اضطرابونو څخه په ډک ګرداب کې کیوزي

ولې چې د ارګ دننه یوشمیر اشخاص او جګړه ماران نه غواړي چې دجګړې د پای ته رسیدو لپاره خپلې شومې شخصي- ګټې قربان کړي، هغوی په دې تمه دي چې همداسې د قدرت په ګد ۍ ناست پاته شي او د خپل کر غیړن واک په غځولو د افغانانو په تنو کې پاتې وینې هم وزبیښې، همدا وجه ده چې مسلسل هغوی د جګړې په ژبه خبرې کوي، د سیاست او دلیل منطق کارولو پر ځای د نفرت او کرکې خورولو لهجه استعمالوي، قومي،ژبني اوتوکمیز نفرتونه او تبعیضونه راپاروي، د هیواد په شمال کې نوي پوځي ملیشې جوړوي، وسلې، پیسې او مهات ویشي،چې په دې لړکې ځیني رسنۍ هم د هغوی لپاره د اذ هانو په خرابولو بوخت دي، همدېته په اشارې سره دامریکا دبهرنیو چارو وزارت ځانګړي استازي زلمي خلیل زاد هم ویلي چې: په کور د ننه او بهر ځینې کړۍ شته چې افغانستان کې د اوسني روان وضعیت دوام غواړي، خو په وینا یې دوی اقلیت دي.

رازو دیته چې دارګ دننه میشت دسولې ضد مافیا دامریکا په مټو ناځي، باید امریکایان دهغوی خولوته قلفونه واچوي او دسولې راتلو په اړه د دوحې په تړون کې خپلې کړې ژمنې دي د ځنډ پرته سرته ورسوي زکه په افغانستان کې سوله اوثبات دامریکا په ګډون دټولې نړۍ اړتیا ده!



قاري حبیب

# د سپتمبر ۱۱ مه،

## کاش د امریکا وروستی عقل ړومبی وای

سږ کال د سپتمبر په ۱۱ مه د هغې پیښې ۱۹ کاله پوره شول چې د امریکا په ماغزو کې یې ډز وکړ او د دغه هیواد واکمن یې د لیونتوب تر حده سربداله کړل.

ویل کیږي چې د نړۍ د هیوادونو پالیسۍ او ستراتیژۍ د هغو تحقیقاتي او څېړنیزو مراکزو لخوا جوړیږي چې د همدې مقصد لپاره رامنځته شوي او په ( تهینک ټانکز) یا د فکر ذخیرو باندې شهرت لري. په دې مراکزو کې عمر خوړلي سیاستوال، تجربه کار پوځیان، متقاعد پروفیسران او نورې علمي او فکري ستنې را یو ځای شوي وي او یوازینی کار یې د بیلابیلو موضوعاتو اړوند څېړنې، پلټنې او په پایله کې واکمنو ته په هره موضوع کې وړ ایډیا او ستراتیژي په لاس ورکول وي.

دغه راز مراکز په ټولو هیوادونو کې شته، اما د امریکا متحده آیالاتو ډېره زیاته بودیجه د سیاست ګذارۍ دې مراکزو ته ځانګړې کړې. د یوې احصائیې له مخې په ټوله نړۍ کې د څه باندې پنځه زره تهینک ټانکز مراکزو څخه ۱۸۷۲ یوازې د امریکا د متحده آیالاتو دي. خو عجیبه دا وه چې ۱۹ کاله وړاندې د سپتمبر د یوولسمې حادثې د دې ټولو مراکزو کارمندان لیوني کړل او پر ځای د دې چې له هوش څخه کار واخلي، د وخت واکمن جورج ډبلیو بوش ته یې مشوره ورکړه چې د جوش اپشن وکاروي او پرته له فکره د جګړې اوربل کړي.

جورج بوش پرته له پوښتنې او پلټنې د سپتمبر د پیښې مسؤلیت په اسامه بن لادن او افغانستان واچاوه او د یرغل لپاره یې جنګي کښتۍ د عرب سمندرګي پر خوا را روانې کړې. د افغانستان اسلامي امارت هغه وخت هم د امریکا واکمنو ته همدا خبره کوله، کومه چې ورته نن کوي. هغه دا چې امریکا دې په خپل قوت او زور نه نازیږي. له مسائلو سره دې منطقي چلند وکړي. دا موضوعات په جګړو او یرغل نه حل کیږي. بلکې امریکایان دې له موږ سره خبرو

ته کیني تر څو د مخامخ مفاهمې او منطق په له لارې لانجه حل پیدا کړي.

خو جورج بوش او د وخت امریکایي واکمن دومره په توده وینه کې و چې د عقل او منطق خبره یې گرسره اوریدله نه. که د هغه وخت خبري ارشیفونه وګورو. نو معلومیږي چې امریکایي واکمنو یوازې او یوازې د جنګ په اړه فکر کاوه. په ( بوش اټ وار ) کتاب کې ثبت شوی جریان څرګندوي چې د سبتمبر له یوولسمې نیولې بیا د اکتوبر تر اوومې ( په افغانستان د یرغل تر ورځې ) دسپینې ماڼۍ، پینټاګون او سي آی اې چارواکي یوازې په جګړه ایزو سلا مشورو او د انتقام اخیستلو په اقداماتو بوخت وو او بل هیڅ بدیل اقدام یې په رسمیت نه پیژاند. په کتاب کې د پینبې د څلورمې ورځې د جریان په اړه راغلي ( شنبه د سبتمبر په پنځلسمه په کمپ ډیوید کې ټوله ورځ د جنګ په ستراتیژۍ خبرې روانې وې) بوش یرغل وکړ، زموږ په مظلوم ملت یې یو بل ناورین تحمیل کړ. خپل ټول زور یې وکاراوه. د واکمنۍ په دوهمه دوره کې یې پوځیان اضافه کړل، خو هره ورځ د امریکایانو ځاني او مالي تلفات زیاتیدل او په جګړه کې د بریا څرک په دوربین کې هم نه ښکاریده. ورپسې اوباما راغی. نوې ستراتیژي یې اعلان کړ، زور یې وکاراوه، خو نتیجه بیا هم صفر وه.

ورپسې ټرمپ راغی. په ډیر غرور یې د افغانستان لپاره نوي ستراتیژي جوړه کړه. خو ډیر ژر دې نتیجې ته ورسید چې کله سل کاله هم همدا نسخه وکاروي پایله به یې کټ مټ همدا وي. د امریکا زیاتیدونکي ځاني او مالي زیانونه او ورسره د امریکا نړیوال حیثیت له خاورو سره خاورې کېدل.

۱۹ کاله بعد ایله د امریکایانو عقل ځای ته ورغی او په دې پوه شول. چې پخوانی پریکړه یې بې ځایه وه. تر دې چې بالاخره امریکایان د اسلامي امارت سره د خبرو او تفاهم هغه میز ته راغلل چې دوه لسیزې پخوا یې بلنه ورکړل شوې وه. د خبرو او تفاهم په لړ کې امریکایانو ومنله چې په افغانستان یرغل یې بې لزومه و او دوی تیار دي چې خپل عسکر له دې هیواده وباسي. نن سبا درگرده امریکایي اډې تخلیه کیږي او د سبتمبر د حادثې د ۱۹ کلیزې نه څو ورځې وړاندې دامریکا ولسمشر-وویل چې ډیر ژر به زرګونه نور عسکر له افغانستان څخه ستانه کړي.

له دې څخه معلومیږي چې امریکایي واکمن ډیر ناوخته په دې توانیدلي چې د افغانستان په اړه له عقله کار واخلي. د باب ووډ وارډ په نوم یو مشهور امریکایي لیکوال چې د ( بوش په جنګ کې) په نوم کتاب یې هم لیکلی اوس یې یو نوی کتاب بازار ته راوځي. نوموړي په دې کتاب کې د امریکا د ولسمشر ډونالډ ټرمپ له خولې لیکلي چې جورج بوش یو احمق او بې شعوره انسان و او دا ربښتیا دي.

هوکې، د سپینې ماڼۍ اوسني واکمن بوش ته ځکه احمق وایي چې ۱۹ کاله پخوا یې په افغانستان د یرغل پریکړه واقعا احمقانه او بې ګټې وه. دې جګړې د افغانستان او امریکا خلکو ته له تباهۍ او تلفاتو پرته بل هیڅ هم نه دي راوړي. نو ځکه خو امریکایي واکمن د حال په ژبه وایي چې (کاشکې وروستۍ عقل رومبی وای)



موسی فرهاد

# وَيُؤثِرُونَ عَلى أنفُسِهِمْ ...!!

د مولوي جلال الدين حقاني او مولوي نصرالله منصور رحمهما الله ترمنځ

# د ايثار يوه جالبه کيسه

د صحابه کرامو رضی الله عنهم او بيا د تابعينو په شان کې خو موږ او تاسو ډېر حيرانوونکې روايات او کيسې لوستي دي، خو د ډېر تعجب وړ ځکه نه وي، چې هغوی خو هسې هم د امت بلکې د ټول بشريت ترټولو غوره او برگزيده هغه قشر ـ دی، چې په سلگونو نصوص يې په شان کې راغلي دي، مثلاً د هغوی ډېرې داسي کيسې دي چې له يو او بل نه يې ځان، مال، اهل، منصب او هرڅه قربان کړي دي.

مگر د دا ډول کړنو ښتنان چې د ۱۴مې پيړۍ په دې کمزوري امت او دې پُرفتنه زمانه کې را پيدا کيږي؛ نو رښتيا هم چې د ډېر تعجب او د يو ريښتيني مؤمن لپاره د غبطې وړ دی.

ځکه خو د همدې کمزوري امت په شان کې پيغمبر عليه السلام داسي فرمايي: صحابه کرامو له نبي عليه السلام نه وپوښتل: "يا رسول الله هل من قوم أعظم منا اجرا؟" آيا داسي قوم به هم وي چې ترموږ به يې د عمل اجرونه زيات وي؟ هغه صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل: "قوم يکونون من بعدکم يؤمنون بي ولم يروني" هو! داسي خلک به له تاسو وروسته راځي چې پر ما به يې په غياب کې ايمان را وړی وي.

يعني د هغوی اعمال که څه هم واړه وي، خو اجرونه به يې ډېر لوړ وي. نو کله چې سړی په دې امت کې د ځينو داسي خلکو اعمالويني، نو باوري کيږي چې همدا به هغه خلک وي چې په شان کې يې نبی عليه السلام فرمايلي، چې د دوی ځينې اعمال به الله ته ډېر محبوب وي.

د پورتنيو دوو تاريخي شخصيتونو بلکې د دوی په خير د اکثرو مجاهدو غازيانو د جهاد د دورې ډېر خارق العاده داستانونه د افغان معاصر تاريخ په پاڼو کې ثبت دي، خو د دوی دوو يوه داسي کيسه ډېره مشهوره ده چې سړی هک پک ورته پاتې کيږي، د سيمې د عينې شاهدانو له خولې يوه کيسه داسي روايت شوې چې وايي، کله چې د وخت د مسلط رژيم د کمونيستي عناصرو له لاسه د هيواد په لر او بر کې د هيواد متنفذين مسلمانان خصوصاً علماء تر سخت فشار لاندې شول، حتی د مرگ، زخم، زندان، تعذيب او ترې تم کيدو له چيلنج سره په جدي توگه مخ وو؛ هغوی مجبور شول چې د دين، عزت او ناموس د حفاظت پخاطر هجرت وکړي، خپل کور کلی او مېنه پريږدي.

نو په دې لړ کې مرحوم حقاني او مرحوم منصور صاحب لومړی درجه هغه کسان وو چې په لویه پکتیا کې د رژیم د کمونیستي ملیشو لخوا تر مستقیم تعقیب لاندې وو، په دې خاطر هغوی پریکړه وکړه چې نور له سیمې ولاړ شي، له همدې ځایه وه چې هغوی پرته له زاد او راحلې، له خپلو میرمنو او ماشومو اولادونو سره د پکتیا د اسمانڅکو غرونو په ګرنګونو او پربنو کې د هجرت سفر پیل کړ. هغوی نه په لارو ورتلای شوای، نه هم په هوارو او کلیو او نه یې هم په رڼا ورځ سفر کولای شوای، ولې چې کمونیستي چارواکو ورته هرځای د جاسوسی جال غوړولی و.

نو ځکه یې په تپو تیارو کې د ګرنګونو او پیچومو لاره وهله. د شمالي وزیرستان تر دته خپلو پورې دغه پنځه ورځنی سفر خورا ستونزمن او له مشقته ډک و.

عیني شاهدان د دې سفر په دوران کې د ډېرو کیسو نه یوه داسې جالبه کیسه کا چې وایی، د شپې په غرونو کې دوی روان وو، له هري پربنې او څوکې نه د دې وېره وه چې کمونیستي ملیشو به چیري ورته کمین نیولی وي، خو په ځینو څوکو کې د هغوی پوستې او کمینونه یقیني وو.

په همدې خاطر دوی په ډېره احتیاط په خاموشی سره تلل. ترڅو دښمن ورباندې خبر نسي، ناڅاپي داسې وشوه چې د نصرالله منصور صاحب یو ماشوم و د مور په غیږ کې و، هغه په ژړا پیل وکړ، مور او پلار یې ډېر کوشش وکړ ترڅو ماشوم بیغمه کړي او دښمن ورباندې خبر نکړي. خو ماشوم هیڅ نه غلی کیده، دوی حیران شول چې نژدې ده دښمن را خبر شي، حقاني صاحب د هغه کورنی، او یو شمېر نور مجاهدین سره له خپلو کورنیو په سفر روان دي، که چیري دښمن خبر شي، نو تباهي به رامنځ ته شي.

په همدې خاطر منصور صاحب خپلو نورو ملګرو ته وویل چې تاسو درمخکې شئ، زه د ماشوم چاره کوم، بیا یې له خپلې میرمنې سره په مشوره، ماشوم تر یوې ونې لاندې څملاوه ترڅو چې بیده شو، او دوی ځینې روان شول.

کله چې بنه لیري نسبتاً پناه ګاه ځای ته ورسیدل، هلته ملګري سره یوځای شول، حقاني صاحب له منصور صاحب نه پوښتنه وکړه چې ماشوم څنګه غلی شو، څه چل مو ورسره وکړ، منصور صاحب ورته وویل، هغه خو مې په همغه سیمه کې تر یوې ونې لاندې بیده پریښود، ماویل هسې نه دا ملګرو ته لوی تاوان ورسیږي، بیا به یې سهار غم وخورو.

خلک کیسه کا چې حقاني صاحب هک پک حیران پاتي شو، نور یې ده ته څه ونه ویل، او خپله بیرته غلی شاته را روان شو، همغه ځای ته یې په همغه خطراتو کې ځان را ورساوه، ماشوم یې پیدا کړ، په غیږ کې یې را اوچت کړ او بیرته یې خپلو ملګرو ته را ورساوه، مور او پلار ته یې وسپاره.

نو پرته له دې چې سړی د دې پیښې په اړه دیانةً او قضاءً وغږیږي؛ یوه داسې خارق العاده پیښه ده چې د دې خلکو ایثار او قربانی ته سړی ګوته په غاښ پاتي کیږي، دواړو د یو او بل لپاره د ځان او اولاد د په خطر کې اچولو سره داسې یو مثال ریکارډ کړی؛ چې کیدای شي بیلګې یې یوازې د صحابه او تابعینو په زمانو کې موندلی شي.

د افغانستان د معاصر جهاد، چې لومړی د سره شوروي، او بیا اوس د غربي کفري ټلوالې په وړاندې د افغان مسلمان ملت له لوري ترسره شو؛ په زرګونو دا ډول پیښې د تاریخ په پاڼو کې ثبت شوې چې د للهیت، فداکاری او خارق العاده ایثار بیلګې بلل کیدای شي.

له همدې ځایه ده چې دا ډول وګړي د آینده نسلونو لپاره د تاریخ ستوري وګرځي. الله دې پر دوی رحم وکړي.



# بین الافغاني ناسته کې د امارت ابتکار څه و؟

م عزیزي

د سنبلې په ۲۲تمه (د سپټمبر په ۱۲مه) د قطر په مرکز دوحه کې د بین الافغاني مذاکراتو پرانستغونډه ترسره شوه.

د افغانستان د اسلامي امارت د سیاسي مرستیال ملا عبدالغني برادر تر مشرۍ لاندې د مذاکراتي ټیم څه باندې شلو غړو او د کابل ۱۹-کسیز مذاکراتي ټیم د نړۍ د نورو مطرحو څېرو ترڅنګ په دې تاریخي غونډه کې ګډون درلود.

دا ناسته مهمه او مؤثره برېښېده، ځکه د هېواد د اشغال په تعقیب نولس کاله پرلپسې نړۍ او ملاتړو له اشغال-ضد افغانانو سره زورازمايي کوله خو اوس د خبرو له لارې د افغانستان د ستونزې د حل موندلو ته راټول شوي وو.

تر دې غونډې وړاندې، د ۱۳۹۹ د حوت په لسمه (د ۲۰۲۰ز د فبروري په ۲۹تمه) د اسلامي امارت او امریکا ترمنځ تاریخ جوړوونکې توافقنامه لاسلیک شوه. د دې مهمې هوکړې په لاسلیک سره امریکا حاضره شوه چې په څوارلسو میاشتو کې دننه، د ۲۰۲۱ز تر پسرلي پورې، خپل او د خپلو متحدینو ځواکونه له افغانستانه وباسي. د دې تړون په لاسلیک سره اسلامي امارت د خپل مشروع مقاومت له دوو اهدافو څخه یوه ته ورسېد، چې هغه د هېواد د اشغال ختمول و.

د مبارزې د دویم هدف، چې افغانان یې د ترلاسه کولو لپاره له تېرو څلوېښتو کلونو راهیسې د سر او مال قرباني ورکوي، د تحقق لپاره پخپله د افغانانو ترمنځ تفاهم، بحث او توافق ته اړتیا وه، چې لله الحمد دې ته هم د بین الافغاني مذاکراتو په پیل سره لاره هواره شوه.

دا د الله تعالی نصرت دی چې نړۍ او ملاتړي یې له هغو خلکو سره خبرو ته کښېناستل چې شل کاله وړاندې یې حتی د ژوند حق هم نه ورکاوه. د خدای پاک په فضل سره اسلامي امارت هم نړیوال له افغانستانه وتلو ته چمتو کړل او هم یې له افغاني جهتونو سره د هېواد د راتلونکې په تړاو خبرو او تفاهم ته زمینه مساعده کړه.

د کابل ادارې په شمول ګڼو بهرنیو او کورنیو کړیو د اسلامي امارت او امریکا ترمنځ د توافق او د بین الافغاني مذاکراتو د پیل په لار کې خنډونه اچول، خو دواړې مرحلې په کوم شکل چې د افغانانو د ملي او دیني ارادو تمثیل او غوښتنه وه ترسره شوې.

دا د الله تعالی د نصرت، د اسلامي امارت د مدبرانه جهادي او سیاسي قیادت د پاکې معرکې او بابصیرته مبارزې نتیجه وه چې هم امریکایان د تکبر او دبدبې له بامه راوغورځېدل او د مذاکرې مېز ته کښېنستل او هم د هغوی تالیځتې له خپل لجاجت او غلیمانه هڅو را ایسار او د افغانانو ارزښتونو او د مصالحو منلو ته د مېز تر شا راتاو شول.



# واقعي سوله ژمنتیا او صادقه اراده غواړي

حسن مومند

د ۱۸ میاشتو اوږدو او ستونزمنو مذاکرتو په نتیجه کې د قطر مرکز دوحه کې د تېر ۱۳۹۸ کال د کب په ۱۰ مې نېټې داسلامي امارت اوامریکا تر منځ رامنځته شوی تاریخي تړون دافغانستان دستونزې دحل او د۴۰ کلن جنګ دپای ته رسېدو په لار کې خورا ستر پرمختګ و.

د دواړو اړخونو جدیت او ژمنتیا ښکاره کولو ته په پام سره له ځومغرضو عناصرو پرته ټول ملت د جنګ او اشغال پای ته رسېدو او په هېواد کې د دایمي سولې رامنځته کېدو ته خورا ډېر هیله مند و.

دې تړون کې په روښانه ټکو راغلي دي چې دمارچ په ۱۰مې نېټې به بین الافغاني مذاکرات پیل کېږي اودبین الافغاني مذاکراتو له پیل نه وړاندې به ۵زره طالب قیدیان ازادېږي چې دا ټکي د افغان ولس د دلا ډېرې خوښۍ باعث وو نو ځکه پدې هوکړې ولس خپله ډېره خوښي ښکاره کړه ؛ دهېواد په ګوټ ګوټ کې ددې تړون نه په ملاتړ کې پراخې غونډې جوړې شوې ؛په سیمه ایز او نړیواله کچه ترې پراخ حمایت رامنځته شو اودملګرو ملتونو د ادارې له لورې یې هم تائید رامخې ته شو چې دا ددواړو اړخونولپاره دخوښۍ او اطمینان خبره او ددوئ دشوي دې اقدام دمعقولیت دلیل و .

خو له بده مرغه چې دکابل ادارې په جعلي بهانو، ډول ډول پلمو دبندیانو دازادۍ خبره وروسته کړه چې له امله یې بین الافغاني مذاکرات هم د اوږده ځنډ ښکار شول.

اوس چې د اوږد انتظار نه پس د درندو فشارونو په نتیجه کې کابو ټول ۵ زره بندیان آزاد شول، دبین الافغان مذاکراتو پر وړاندې پراته ټول لوی خنډونه له منځه ولاړل او د خبرو د ژر پیلېدو قوي احتمال رامنځته شو نو یو ځل بیا په بشپړه توګه د اشغال او جنګ دپای ته رسېدو او په ټول هېواد کې د دایمي سولې درامنځته کېدو لپاره د

افغـان جنـګ ځـپلي ولـس امېدونـه را ژونـدي شویدي.

په ترون کـې راغـلي و چـې امریکـایي تـول ځواکونه به په ۱۴ میاشتو کـې لـه افغانسـتان نـه وځي او افغانستان به تخلیه کوي.

کـه وکتـل شي نـو تـر دې دمـه دامریکـایي ځواکونو د تخلیې دا عمل ندی متوقف شـوی، بنـه پـه جـدیت او تېـزۍ سره روان دی؛ دهېـواد پـه مختلفو برخو کې دامریکایي فوځیانو ګنـې داسـې اډې شته چې د ترون د رامنځته کېدو نه پس تـرې دفوځیانو د وتلو لړۍ پیـل شـوی وه او اوس پکـې یو فوځي هم نه تر سترګو کېږي چـې دهـوکړې دې مهمې برخې ته دامریکایانو دا ژمنتیـا هـم د ولـس لپـاره د ډېـر اطمینـان او لا زیـاتې خوښـۍ سـبب ګرځېدلی دی.

**ټوله نړۍ پدې حقیقت پوهېږي چې د اسـلامي امـارت پـه قیـادت کـې د افغـان مسـلمان ولـس مبـارزه او پـدې مبـارزه کـې سترې قربانۍ دمادي ګټـو لپاره نـه بلکـې د اشـغال دپـای تـه رسـېدو، دخپـل دیــن ، نـاموس او خـاورې نـه د دفـاع او داسـلامي نظام دنفاذ لپاره دي؛ دا اهداف کـه دجنـګ لـه لارې ترلاسـه کېـږي نـو دا جنـګ ډېـر مقــدس جنــګ دی او کــه دا اهــداف د مذاکراتو او تړونونو لـه لارې ترلاسـه کېږي نـو دا مـذاکرات او تړونونـه بیـا د اسـلامي امارت لپاره ډېر مهم او ارزښتناکه دي.**

پـه اوږدو مـذاکراتو کـې داسـلامي امـارت جدیت، دترون په وړاندې دپرتو خنډونو دلرې کولو لپاره معقول او کوټلي اقـدامات او پـه خپلـو کـړو وعدو باندې بشپړه وفا د دې خبرې واضـح دلیـل و چې اسـلامي امـارت دمـذاکراتو بهیـر او دسـولې ترون ته په ډېر لوی اهمیت قائل دی؛ دقدر په نظـر ورته ګوري، ساعت تېـري نـه کـوي او پـه ربښـتیا داشغال او جنګ پای ته رسېدل او دایمـي سـوله غواړي چې پدې حقیقت اوس ولـس او نـړۍ ډېـره ښه پوه شوی او همدې شي په نـړۍ او ولـس کـې داسلامي امارت اعتبار ډېر لوړ کړیدی.

اوس چـې بـین الافغـاني مـذاکرات پیلېـږي اسلامي امارت ورته ډېره لویه تابیـا نیـولې؛ ورتـه یې خپل ګڼ لوی مشـران ورولېـږل او دمـذاکراتي ټیم مشر یې خپل قاضـی القضـات وټـاکلو چـې دا دې مذاکراتو ته د ستر اهمیت ورکولو او سولې ته دکاملې دژمنتیا بل لوی دلیل دی.

خو متأسـفانه چـې دسـولې پـه هکلـه دکابـل داداري ارادې کـې هـیڅ اخـلاص نشـته او ددې لپاره په عمل کې هیڅ صادقانه رول نه ادا کوي.

نو یې د کابل نه دتلونکي مـذاکراتي پـلاوي په ترکیب کې ډېر کمزوري، بې اختیاره او دسـولې ضد او متعصب عناصر وردننه کړیدي.

دکابل اداري عمل ته پـه کتـو سره دسـیاسي چارو ټول کتونکي وایې چې د کابل واکمنـانو پـه قول او فعل کې لوی تضاد شتون لري او لـه کړنـو یې داسې ښکاري چې دسولې په اړه هیڅ ښه نیت



او صادقه اراده نه لري؛ دوئ ته يواځې خپلې مادي ګټې او دخپل واک دوام اهميت لري؛ دوئ په همداسې ګډوډ حالت او فاسد حکومت کې دخپل واک او مادي ګټو بقاويني نو ځکه دسولې د هرې هڅې د سبوتاژ کولو هڅې کوي؛ ورته ډول ډول پلمې لټوي او په پرلپسې توګه له شوې معاهدې نه سرغړونې کوي او لا يې هم په فوځي اوسياسي برخه کې تخطيانې روانې دي.

په ولسي وګړو دبمبار اوشپنو چاپو ودرول دتړون خورامهم ټکی وچې دتړون په رومبنو شپو ورځوکې ورباندې عمل هم کېدلوخو متأسفانه چې دا وحشت لا هم ندی تم شوی او دهېواد په لر اوبرکې په ډېر بې رحمانه ډول زموږ دمظلومو هېوادوالو دقتل خونخواره لړۍ روانه ده.

موږ پدې ډېر ښه پوهېږو چې دکابل ادارې نور په تمامه معنی اعتبار له لاسه ورکړيدی او د فوځي ځواک مورال يې دومره لويدلی دی چې نوريې دمجاهدينو په مقابل کې دمخامخ جنګ کولو توانمندي په کلي ډول له لاسه ورکړېده.

بل لورته دفاتحو مجاهدينو مورال ډېر قوي دی چې دا داسلامي امارت لپاره ډېر داطمينان نه ډک حالت دی خو داچې داسلامي امارت قيادت دشرعي اصولو له مخې ددښمن سره دکړو وعدو ژمنتياته ځان مسئول بولي اودهېواد او ولس خير ددې تړون په بقاکې او په نتيجه کې يې داشغال په پای ته رسېدو او په دائمي سولې کې ويني نو ځکه ددې تړون دسپوتاژ کولو لپاره دکابل ادارې هڅې کاميابۍ، تړون ماتېدو اوسوله خرابېدوته نه پرېږدي، دې سترې لاسته راوړنې ته اهميت ورکول ؛ حفاظت ته يې وفاداري اودعملي کېدو په لار کې يې خنډونه له منځه وړل له حده زيات اړين بولي.

ننی پراخ سيمه ايزاونړيوال تحليل همدادی چې که دکابل ادارې واکمنان وضعيت سم درک نکړي ؛په سوله ايزه توګه دمسئلې ته خپله ژمنتيا ښکاره نکړي اوسنی فرصت ضايع کړي نويقيني ده چې دسترې رسوايۍ سره به مخامخ شي.

دا اوس د کابل ادارې په واکمنانو ده چې دروان سياسی اونظامي وضعيت په سم او دقيق درک سره په ابرومندانه توګه د مسئلې حل غواړي او که په سياسي اونظامي ډګرونو کې نور هم دلويې رسوايۍ سره ځان مخامخ کوي .



# د اسلامي واکمنۍ جوړولو هدف!

## بنه، ماهیت او اداري تشکیلات یې!

**ابوظهیر شمس**

هو ! افغان مجاهد ولس ته د ډاډ وړده چې داشغال پای ته رسیدوپه اړه د دوحې تاریخي هوکړه لیک له ژمنو سره سم له هیواده د اشغالگروامریکایي ځواکونودانخلاء لړۍ له کوم ځنډپیا وقفې پرته جریان لري اوهم د یو اوږده ځنډ وروسته د ٦ زره بندیانو خوشي کولو پروسې په تکمیل سره د ستمبر په ۱۲مه دقطر هیواد په پلازمېنه( دوحه) کې بین الافغاني مذاکرات پیل شول، چې تردې شیبو پورې د دواړو غاړو د تماس تخنیکي گروپونو ترمنځ دوه ناستې هم شوې دي،تمه شته ده چې په نیږدې راتلونکي کې به دانوي پیل شوي بین الافغاني مذاکرات مثبتې پایلې ولري

ځنگه چې د بین الافغاني مذاکراتو د پیل په دوران کې د افغانستان اسلامي امارت له لوري په پوره صراحت سره هیوادکې« د بشپړ اسلامي نظام د نفاذلپاره داسلامي واکمنۍ په جوړولو »ټینگار وشو، اوهم د مقابل جهت د یو شمیراشخاصو پخوانیوځرگندونوته په کتودابرداشت شونی دی چې هغوی هم شاید په ښکاره د اسلامي نظام دنفاذ او اسلامي واکمنۍ جوړولودمخالفت جرئت ونکړای شي !البته یوه اندیښنه شته چې د اسلامي حکومت جوړولو په لړکې شاید د ځینو ناسموتشریحاتو، خطا انگیرنو اوجاهلانه معلوماتو په لرلو او وړاندې کولو سره مخالف جهت دخپل قدرت مودې غځولو هڅه وکړي او داوږدو بحثونود فضا په رامنځته کولو سره د مذاکراتودنا کامولو کوښښ وکړي، طبعي ده چې په مقابل کې به یې د اسلامي امارت مذاکراتي پلاوی هم بې غبرگونه پاته نشي او د" جواب ترکي به ترکي" په مصداق به د شریعت د صریحو، احکامو اود اسلامي امت د جیدو علماوو داقوالو اوڅیړنو په رڼاکې د اسلام د سیاسي نظام تشریحولو اړتیا

محسوسه کړي، نوبناً دلته د پورتني سرليک لاندې داسلامي واکمنی جوړولو د اساسي غرض! د اسلامي حاکميت جوړولو د"نوعيت وماهيت او د عملي واداري تشکيلاتو" په باب يې له ښاغلو لوستونکو سره ضروري معلومات شريک کړو:

کله چې د اسلامي حکومت د تشکيل يا اساس اينبودو موضوع باندې بحث ياخبره کېږي نو بالعموم هلته دا لاندې پوښتنې مطرح کېږي:

ايادين او سياست(حکومت) له يوبل څخه جلادي؟ايا رښتيا اسلام ديو اسلامي مملکت يا حکومت دشتون پرته ژوند؛ اسلامي ژوند نه بولي؟ ياپر بل سپيناوي ايا دمسلمانانوپه انفرادي او اجتماعي ژوندکې د اسلامي احکامو جاري کولو يا نافذولو لپاره د اسلامي رياست رامنځته کول ضروري امر ندی؟

داسلامي رياست صحيح تعريف څه دی؟او اسلامي هيواد په نني سياق وسباق کې کوم ډول هيواد يارست ته ويل کېږي؟

ديو هيواد داسلامي دولت يا رياست کيدو غوښتنې څه دي؟

داسلامي دولت، يا امارت، وضع وهيئت، نوعيت، به څه وي؟

ايا درسول الله صلی الله عليه وسلم مثالي اسلامي رياست او د راشده خلافت د سياسي جوړښت نمونه دتل لپاره متعين شوې ده! چې په هروخت اوهر دورکې يې د مسلمانانو لپاره تقليد اوپيروي ضرور و لازمي ده؟ او که اسلام په دې باب کې يوائې د اساسي مباديو، اصولوپه تاکلو اکتفا کړې ده چې دهغو په لحاظولو سره د هر دور دغوښتنو اواړتياوو سره سم د اسلامي دولت اوحکومت خاکه يا نقشه جوړيدای شي او دهغو په رڼاکې د اسلامي دستوريا اساسي قانون جزيات او تفصيلات متعين کېدای شي؟

۴-ايا اسلامي رياست پخپل ماهيت کې يو جمهوري رياست دی که يوجماعتي اميريت دی؟

په اسلامي دولت،يا رياست کې مقتدره هيئت(حکومت،/اجرائيه) او دمقننه او قضا تشکيل يا جوړولو، تگلاره يا طريقه به څه ډول وي؟

دهيواد مشربه او حکومت به څنگه غوره کېږي؟دهيواد د مشر لپاره داهليت اوصاف به څه وي؟ دهغه دواکونو دايره به څه ډول وي؟ حکومت به دخپلو کړو وړو او خپلو وظايفو په سرته رسولو کې کومې مرجع ته ځواب ويونکی وي ؟مقننه به څنگه جوړيږي؟ دهغې دغړيتوب صفات به څه وي؟هم دا راز د قانون جوړولو په لړکې دهغوی واک او حدود به څه وي؟ داجرئيه( مقتدره هيئت) او مقننې ترمنځ دخپلمنځي ارتباط او تعامل صورت به څه وي؟ترټولو اهمه داده چې په اوسني وخت کې داسلامي شورائيت اصولوته په کتو مؤثره مقننه څنگه رامنځته کيدای شي؟ ايا په اسلامي هيوادکې دمقننې په مؤثرگرځولو سره، دمطلق العنانيت مخنيوی کيدای شي؟ د دولتي ادارو په تشکيل کې دمعاصرو سياسي نظامونويعنې دمعاصرې نړی دتجربو،اختراعاتو، او اجتهاداتو

ځخه استفاده کیدای شي؟ که کیدای شي نوطریقه به یې څه وي؟ د یوهیواد دربیمه ستن (قضا) بڼګه ودرولی شي؟ د هیواد د قضائي اوحقوقي نظام بڼه به څه وي؟

**ایا په اسلامي دولت یا ریاست کې به سیاسي ګوندونه هم کردار لري؟**

په نوي دورکې د اسلامي هیواد دننه د وګړو خپلمنځي حقوق اوفرایض به څه وي؟ په اسلامي هیواد کې د نامسلمانو وګړوحیثیت و کرداربه څه وي؟ او د هغوی سیاسي، حقوقي،اوښاري حقوق به څه وي؟

په اسلامي هیواد کې د قانون جوړولواو اجتهاد کولو نوعیت او دهغه حدود به څه وي؟په اوسني عصرکې داسلامي قانون تدوین طریقه، یا کړنلاره او د هغې حدود به څه وي؟

دپورتنیو پوښتنو په اړه قناعت بښونکو ځوابونو او ځیړنو ته اړتیا ده، هو! دشک پرته دامت اسلافو او علماوو په دې اړه ډیرکار کړی دی، خو افسوس چې نن زموږ ډیرو لویو خلکو اوپوهانو ته هم د هغوی عالمانه څېړنې، تنقیدي بحثونه او تحلیلي جایزې په نظر نه ورځي او د کره معلوماتو لرلو پرته کله یوخواته او کله بل خوا ته تیندکونه خوري، په اړه یې د ځرګند او روښانه دریځ غوره کولو جرئت نشي کولی،چې له امله یې په لوی شمیر اسلامي مبارزین اومجاهدین مجبوراً د ناسمو اندونو په لومو کې په نښتلو داسلام دمعتدل مسیرنه په خطا مسیر روان شي.

رازو اصل موضوع ته چې دامت ثقه او با اعتماده علماوو د اسلامي مملکت په اصولواو مبادیوباندې د بحثونو لیکلو په ضمن کې د دین اوسیاست ترمنځ د تفریق اوبیلتون والي په مفکوره باندې تردید کړی دی، هغوی د دین اوسیاست ترمنځ ګډ امتزاج په د لایلوسره توضیح اوښکاره کړی دی، پر بل سپیناوي داسلامي شریعت دلارښوونوله مخې: اسلام او سیاست دیوبل سره لازم وملزوم او یوبل څخه نه جلا کیدونکي دي،یعنې زموږ شریعت، په دوه جلا، جلا اقلیمو نو کې د"اسلا اوسیاست" ویشلو پرځای د دواړو د وحدت او امتزاج علمبردار دی، ددې لپاره مسلمانانو څخه دیو متعین، حاکم سیاسي هیئت د جوړولو غوښتنه کوي، په دې لړکې با اعتماده محقق علامه اسد دیادې نکتې په اثبات کې لاندې استدلال کړی دی :

عظیم الشان قرآن دخپل پیغام پیل له همدې اساسي مفکورې څخه کړی دی چې د انساني ژوند ټول اړخونه دالهي وحي تابع دي، اوځانته یوجلا اخلاقي وقدروقیمت لري ، همدا وجه ده چې اسلام ځان یواځې تروحاني لارښوونو او اخلاقي ارشاداتو محدودنه بولي، بلکې دانسان په ټولو کړو،وړوبحث کوي، که هغه د انسان انفرادي کړه وړه دي اویا یې اجتماعي،اقتصادي اوسیاسي کړه وړه، اسلام غواړي د انسانانو دیني، اخلاقي، اعتقادي او ټولنیز معاملات له یوبل سره تړل شوي وي، اسلام ددیني او دنیاوې چارو ویش له



امکان څخه وتلی بولي او د دین اوسیاست یوځای کول او امتزاج د اسلام ځانګړتیا ده.

همدا راز د ا سلام مخاطب یواځي فردندی، بلکې دوګړو یا افرادو هغه خارجي ډله یا اجتماع هم ده، کومه چې موږ ټولنه بولو، اسلام د ټولنیز ماحول سره د فرد په یوځایوالي ټینګارلري، د دې لپاره دفرد روحاني اودیني روزني ترڅنګ دافرادو خپلمنځي اړیکو ټینګولو او په سمه لار دټولنې بیولو اود فساد څخه دهغې ژغورلو لپاره څرګندې لارښوونې، احکام اوقوانین را استولي دي، دعظیم الشان قرآن له مخې د اسلامي "حنیف دین" هدف تنهادټولنې وګروته اخلاقي طرزالعمل ښودل ندي بلکې د هغوی اجتماعي ژوند هم د مثالي عدل و انصاف نمونه ګرځوي، د دې لپاره دافرادو یا وګروعملي اجتماعي اړیکي په داسې ډول جوړول غواړي، چې په سبب یې هرفرد دخپل شخصیت په جوړولو کې د کمو ستونزو او مشکلاتوسره مخ شي او زیات نه زیاتو اسانتیاووڅخه برخمن اووسي، اسلام دیوې داسې ټولنې دجوړولو داعي اوغوښتونکی دی چې هغه دخپلو افرادو دروحاني او اخلاقي ترقي او د هغوی د ذهني وفکري ودې لپاره مناسب ماحول برابر کړي او ترڅنګ یې هرفرد ته دجسماني او مادي اړتیاوو دتکمیل تضمین هم ورکړي څودټولنې دننه هرفرد په سمه توګه اسلامي ژوند وکړای شي

ددې مقاصدو دلاسته راوړو لپاره اسلام خپلومنونکوته په نظم کې دځایولولپاره یومعین اجتماعي نظام تشکیلول غواړي ،چې په دې توګه اسلام یوځانګړی ټولنیز ،اقتصادي، حقوقي اوسیاسي نظام تجویزوي،او دجوړولو لپاره یې د خپلولارویانوڅخه ددیني او اخلاقیاتوپه مجموعه تصورکې دننه دیو متعین سیاسي طرزالعمل غوره کولوغوښتنه کوي او ددې لپاره دیو سیاسي امت د تشکیل وتنظیم عملي لائحه، د انفرادي حقوقو وفرایضو اوداجتماعي مسؤلیتونو لپاره یوه خاکه یانقشه وړاندې کوي

نوموړی په دې باره کې درسول الله صلی الله علیه وسلم په "اسوه حسنه" باندې استدلال او استشهاد کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دنبوت په ۲۳ کلنه دوره کې یواځې دافردو په اخلاقي او روحاني تربیت اکتفا ونکړه، بلکې هغوی ته یې داجتماعي ژوند کولو په اړه دترتیب وتنظیم یوه غوره نقشه هم ورکړه ، رسول الله صلی الله علیه وسلم د افرادوپه دیني او اخلاقي پالنه بسیا ونکړي بلکې د یوې عادلانه او منصفانه ټولنې دجوړولو دستور یې هم ورکړی دی. نور بیا...



# حقاني، د وارسا او ناټو د شکست اتل

حافظ نور احمد سعید

ډېر تفاوت شته په انسان کې دمعنی په لحاظ
واړه لګیا دي ځيني ځان ځيني جهان جوړ وي

د ډېرو انسانانو هڅې پر ځان او يا حداکثر خپلې کورنۍ ور تړولې وي، مګر د داسي کسانو شمېر هم کم نه دی چې دټولنې اوجهان داصلاح او سېرازۍ، منډو او هڅو يې خوب او ارام خراب کړی وي. جهان جوړونکي دخپل ستر هدف په لار کې له ډول ډول تکليفونو او کړاونو سره لاس اوګريوان شوي، جلا وطني، بې خوبي او اسارتونه يې ګاللي او بالاخره په همدې لار کې يې خپل سرونه او د زړه ټوټې ښندلي، خو د زمان او مکان جبر ته نه دي تسليم شوي.

د نړۍ جوړونکو له ډلې خدای بخښلی جناب مولوي جلال الدين حقاني صاحب هغه ستر شخصيت و، چې په دې لار کې يې نه ستړي کيدونکې هڅې او خدمتونه ترسره کړي دي.

نه پوهيږم دوارسا او ناټو د شکست د اتل (حقاني صاحب) په اړه څه، څنګه او له کومه راپيل کړم، ځکه د حقاني صاحب شخصيت څو بعدونه لري او هر بعد يې بيا ځانته پر جلا- جلا څانګو او ښاخونو مشتمل دی.

حقاني صاحب دمعاصر جهادي بهير هغه ځلانده لمر و ، چې ډېرو يې په ځلا اوړنا دمقصود منزل پر لور ګړندي ګامونه اوچت کړي او پر همدې لاره پر دښمن دغلبې او يا تل پاتې بري ( شهادت )تر درشله رسيدلي دي. حقاني هغه پولادي امير و، چې د وارسا او ناټو پر ضد اوږدې مبارزې يې دښمن پر ګونډو کړ،خو دنوموړي عزم دزمان او مکان سړو سيليو او تورو بړبوکيو سست نه کړ.

په شوروي ضد جهاد کې دجهادي صف ځینو امیرانو،قوماندانانو او وسله والو دومره انحراف وکړ چې مات شوي کریملین ته په سجده شول او ډیرو یې بیا د سپینې ماڼۍ چوپړ کې خپل هیوادوال له تیغه تېر کړل او په ډیر ویاړ سره یې د پنتاګون بمونو او راکټونو ته دخپلو هیوادوالو دوژلو په موخه کوردينات ورکړل.خو حقاني نه یوازي داچې له اصلي مسیره وانه وښت، بلکې لا ډیر پر خپل سپېڅلي مسیر ټینګ شو او دښمن ته یې په ډانګ او استدلال سره نه هیریدونکی سبق ورکړ.

اروابنادحقاني د صلیبي یرغلګرو لښکرو پر ضد داسي مبارزه وکړه چې پر پیاوړتیا یې دښمن هم اعتراف کوي او لومړی درجه دښمن یې ګڼې. حقاني صاحب د اشغالګرو پر ضد روان جهاد کې دخپل زړګي څلور ټوټې( ډاکټر نصیرالدين، حافظ بدرالدين،عمر او محمد) قرباني کړې.د بچیانو قربانۍ نه یوازي داچې سپين ږيری حقاني ستومانه او له مبارزې پښېمانه نه کړ، بلکي جهادي عزم یې لا ټينګ شو، جذبه یې سرشاره او روحیه یې لا پسې پیاوړې شوه.

جناب حقاني صاحب داسلامي امارت مشرتابه او ټول ملت ته دمشر- زوی( ډاکټر نصیرالدين) دشهادت مباکې وړاندي کړه. حقاني دښمن ته روښانه کړه چې لا ډيري قربانۍ ته چمتو دی او په رسا ټکو کې یې وويل:« لکه څنګه چې د ډاکټر نصیرالدين شهادت زموږ دکورنۍ لومړنۍ قرباني نه ده،وروستنۍ به هم نه وي».

حقاني صاحب هغه ځوانان د غبطې وړ بلل چې د خدای جل جلاله په لار کې سرونه نذرانه کوي او دشهادت جامونه پر سر اړوي.حقاني د شهادت تنما کوله او دخدای جله جلاله څخه یې غوښته چې د شهادت عالي مقام ته یې کامیاب کړي.

دجناب حقاني صاحب کارنامې او حماسې دومره زیاتې دي چې په یوه لیکنه کې څه، چې یو کتاب کې هم نه شي را یو ځای کیدای . لنډه داچې حقاني صاحب مدبر رهبر، جيد عالم،غښتلی جنرال، دشجاعت منار، د صبر او استقامت غر او دنیکو اخلاقو سمندر و.

ستا د ښایست ګلونه ډیر دي
ځولۍ مې تنګه زه به کوم کوم ټولومه

په پای کې د ستر څښتن په لوی دربار کې لاسونه لپه کوو، چې ستر غازي خدای بخښلی جناب حقاني صاحب رحمه الله ته خپله رضاء او لقاء ور په برخه کړي. کورنۍ او لارویانو ته یې صبر، استقامت او نعم البدل نصیب کړي. امین ثم امین!





# ولسمشر ټرمپه!

# زما ترې تم ورور ترشا مه پرېږده..!!

ژباړه او لنډيز: م. فرهاد

نيويارک ټايمز کې د يوې مقالې لنډيز او ژباړه

GETTY

دا مقاله د يو امريکايي قراردادي پوځي خور ليکلې چې نژدې ۷ مياشتې وړاندي په افغانستان / کابل او يا خوست کې لادرکه شوی. خو تراوسه يې هيڅ اته پته نه ده لګيدلې او نه يې چا د مسئوليت اخيستو اعلان کړی.

په افغانستان کې د برمته، لادرکه امريکايي (مارک رنډال فرريکس) Mark Frerichs خور (چارلن ککورا)Charlene Cakora وايي، زه ويرېږم، هسې نه چې ښاغلی ټرمپ له افغانستان نه ټول امريکايي ځواکونه په ناڅاپي ډول را وباسي، خو زما ورور په ترې تم حالت کې ترشا پريږدي.

دا وايي، هيله کوي چې ښاغلی ټرمپ به د ځواکونو تر مکمل انخلا وړاندي د هغې ورک ورور ورپيدا او خپل وطن امريکا ته به يې ورولي.

نوموړې وايي، ټرمپ ما ته وويل: زه يو مذاکره کونکی، د تړونونو ماهر او د برمته خلکو د راخلاصولو چمپين/ پهلوان يم.

مارک، په افغانستان کې د امريکايي ځواکونو قراردادي پوځي دی چې د روان ۲۰۲۰ کال د جنوري په ۳۱مه نيټه په افغانستان کې ترې تم شو.

د نوموړې خور (چارلن ککورا) د نيويارک ټايمز په تازه ګڼه کې د هغه په اړه په يوه مقاله کې ليکلي: کله چې تېره اونۍ زه او زما کورنۍ د جمهورييالو په کنواسيون (غونډه) کې وو، مور ٦ تنه داسي کسان وليدل چې په افغانستان کې له برمته کيدو وروسته يې له ټرمپ سره ملاقات درلود، ټرمپ پخپلي دغي بريا؛ چې دوی يې را خلاص کړي او خپل وطن ته را ستانه کړي وو؛ ډېر وياړ کاوه.

مور ډېر پري خوښ سو، او له ولسمشر- ټرمپ نه مو هيله وکړه چې زموږ برمته ورور هم په ياد ولري او هغه ژوندی راته وژغوري.

د تېري شورو په ورځ د امريکا حکومت اعلان وکړ چې کله څوک د مارک او يو بل امريکايي (پاول اډوين اوربي) په اړه مالومات ورکړي؛ نو تر ۵- ميليون ډالرو پوري انعام به ورکول شي.

ما او زما کورنۍ د ولسمشر له ټينګو ملاتړو ځخه يو، موږ هغه څوک وو چې په ۲۰۱٦م کې مو هغه ته رايه ورکړې وه.

خو که ښاغلی ټرمپ له طالبانو سره د سولې پروسه داسي پرمخ يوسي چې زما ورور ترشا تري تم پريږدي؛ نو موږ به ډېر تري خفه شوو.

راپوړونه شته چې ښاغلی ټرمپ غواړي، د خپلې لومړۍ مودې تر پای ته رسولو وړاندي په بيړنۍ توګه د ځواکونو د اخراج اعلان وکړي.

د ټرمپ ادارې له داسي چا سره د معاهدې د وروستي پړاو په اړه خبري رواني کړي؛ چې هغوی د مارک غونډي خلکو په تري تم کولو کې ښکيل دي، د حقاني شبکې مشر د طالبانو د امير مرستيال دی.

نو که چيري يو دم ټرمپ د ځواکونو د وتلو ناڅاپي اعلان کوي، بيا به هيڅ داسي وسيله ونلري چې په مټ يې پر حقاني شبکه او طالبانو پريشر- واچولی شي. ترڅو زموږ برمته ورور را خوشی کړي.

موږ له ښاغلي ټرمپ سره وليدل، له هغه نه مو غوښتنه وکړه چې په دې اړه له ملابرادر(د طالبانو د سياسي دفتر مشر) سره خبري وکړي. موږ ټرمپ ته دا هم وويل، چې که وکولای شي له ګاونډي پاکستان نه هم مرسته وغواړي، ترڅو مالومه شي، د مارک په بدل کې حقاني شبکه څه غواړي.

موږ چې هرسهار له دې ويري سره را پاڅيږو چې دا خبر به اورو چې ولسمشر به اعلان کړی وي، چې نور د افغانستان جګړه پای ته رسيدلې، زه خپل ځواکونه راباسم، پرته له دې چې د ده دفتر د مارک په خلاصون کې اغيزمن رول لوبولی وي.

که تاسو دا فکر کوئ، چې داسي نشي- کيدای؛ موږ ډېرداسي شواهد لرو چې موږ په دې کار باوري کوي.

په ۲۰۱۵م کې کله چې بارک اوباما له ايران سره نيوکليير تړون لاسليک کړ، لنډه موده پس په ۲۰۱٦م کې ډېری امريکايان چې په ايران کې بنديان وو؛ آزاد شو، خو رابرت ليوينس د ايف بی آی جاسوس چې په ۲۰۰۷م کې نيول شوی و؛ هلته پاتي شو. او دا کال حکومت د هغه د مړينې خبر ورکړ.

موږ ويره لرو چې مارک به هم په همدې شکل پاتي شي، ولی چې د ترمپ اداره د پاليسي- د لوړو اهدافو په تعقيب پسي ده.

ولسمشر ټرمپ موږ ته وويل: زه يو مذاکره کوونکی، د تړونونو ماهر او د برمته خلکو د راخلاصولو چمپين/ پهلوان يم.

موږ هغه ته وويل، له تا نه هيله لرو چې د مارک په خلاصون کې خپل اغيزمن ځواک وکاروي، ترڅو مارک خپل کور ته راشي او د افغانستان له زندانه را خلاص شي.

- ليکوال: محمود محمد الخزندار
- ژباړه: احمدحمزه

اوومه برخه

# په جهاد کې زموږ اخلاق



## صبر او له سختيو سره مېړانه

اتمه برخه

هغه مجاهد چې دخپل ځان لپاره يې د قرباني لاره خوښه کړې وي، پدې لاره به ترهغې ترپايه ونه رسي چې د صبر جامه يې نه وي خپله کړې؛ کومې ډلې چې د کړاوونو لاره نيولې وي، ترهغو به يې اړيکه دوامداره نه شي او نه به خپله اراده مضبوطه وساتلی شي څو چې يې يوبل ته د حق توصيه او د صبر ښوونه نه وي کړې، مؤمنان ټول د الله تعالی دغه وينا ته مخاطبين دي چې فرمايي: {**يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اصْبِرُوا وَصَابِرُوا وَرَابِطُوا وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ**} **اې مؤمنانو! له زغم څخه کار واخلئ ، د باطلپرستو سره مقاومت وکړئ او دحق لپاره ملا ټينګه وتړئ ، الله تعالی څخه وويرېږئ شايد تاسې بری ومومئ!** [آل عمران: ۲۰۰].

کوم صبر چې زموږ په واک کې ده، په ډېرو تعريفونو سره راپېژندل شوی چې موږ پکې لاندې څو تعريفونه راخلو:

امام طبري رحمه الله وايي: (**الصبر: منع النفس محابها، وكفها عن هواها**) . صبر يعنې خپل نفس له خوښو شيانو څخه منعه کول او له خواهشاتو يې راګرځول.

ابراهيم خواص رحمه الله وايي: صبر يعنې د الله تعالی په کتاب او د پيغمبر ﷺ په سنتو کلک پاتې کېدل.

ابن الجوزي رحمه الله يې داسې راپېژني: ستا چې څه خوښېږي له هغې خپل نفس تړل، هرهغه فعل پرې لازمي کول چې له اول سره يې نفس بد ګڼي، که يې وکړ او يا يې پرېښود، خامخا به هغه ورباندې وروسته تکليفيږي.

مګر صبر په ليکل شوي مقدور آفت او په هغو کړاوجنو پېښو کې چې د انسان لپاره پکې اراده او اختيار نه وي نو لکه څنګه چې ابن عطاء ويلي: صبر دا معنا چې: **له مصيبتونو سره په حسن ادب تعامل لرل**. ابو علي الدقاق بيا وايي: **(د صبر حقيقت دادی چې په ليکل شوي تقدير نيوکه نه کول)**.

ژوند د حق او باطل ترمنځ جګړه ده په دغه اخ و ډب کې هغه څوک کاميابيږي چې اوږده ساه

(حوصله) او ډېرې نيکې ورانـدوينې ولـري. {.... وَجَعَلْنَا بَعْضَكُمْ لِبَعْضٍ فِتْنَةً أَتَصْبِرُونَ ...} مـوږ تاسې څخه ځينې د ځينـو نـورو لپـاره ازمايښـت ګرځـولي ياست، آيا تاسې صبر کوئ؟ [الفرقان: ٢٠].

باطل پرستو به هـم خپلـو خلکـو تـه پـه باطلـه درېدلو توصيه کوله: **{وَانطَلَقَ الْمَلَأُ مِنْهُمْ أَنِ امْشُوا وَاصْبِرُوا عَلَىٰ آلِهَتِكُمْ} د قوم سردارانو يو بل ته په وتلـو کې وويل چې: ځئ لاړ شئ او په خپلو خدايانو صبر (ټينګار) وکړئ...}** [ص: ٦] بل آيت کې راځي: **{هغه (پيغمبر) به موږ له خپلو معبودانو بې لارې کړي و، که چېرې موږ په هغې صبر نـه واى کـړى...}** [الفرقـان: ٤٢]

آيا حقپالونکي به پاطلپرستو تـه ونـه وايـي: **{... وَلَنَصْبِرَنَّ عَلَىٰ مَا آذَيْتُمُونَا ...} موږ به خامخا پرهغه څه چې تاسې موږ ته کړاو رسولى ، صبر وکړو)**.

ترڅو دوى کې د الله تعالى د تګلارې په نصرت او تمکين (په ځمکه کې برلاسى) ځرګند شي.

**{وَجَعَلْنَا مِنْهُمْ أَئِمَّةً يَهْدُونَ بِأَمْرِنَا لَمَّا صَبَرُوا ...}** او کله چې هغوى صبر وکړ نـو مـوږ پـه هغـوى کـې داسې لارښودونکي پيدا کړل چـې زمـوږ پـه امـر يـې لارښوونه کوله. [السجدة: ٢٤].

ډېرخلک دا پلمې کوي چې د دوى طبيعتونه پـر دوى غالبېږي او دوى د زغم او تحمل توان نـه لـري، که چېرته دوى ربښتيا هڅه وکړي، غوسه وزغمـي ، لـه حرامو ځان وساتي ، سينه پراخه کړي، څـه چـې اللـه تعالى ورکړي، په هغې قناعت وکړي، او د الله تعـالى لخوا وربـاندې راغلي امتحان په مېړانه مقاومت وکړي، بيا بـه دا د هغـه لپـاره خصـلت وګرځـي، پيغمبـر ﷺ

فرمايي: (وَمَنْ يَسْتَعْفِفْ يُعِفَّهُ اللَّهُ، وَمَنْ يَسْتَغْنِ يُغْنِهِ اللَّهُ وَمَنْ يَتَصَبَّرْ يُصَبِّرْهُ اللَّهُ) څوک چې له حرامو څخه ځان ساتل غواړي، اللـه تعـالى بـه عفـت ورکـړي او څوک چې لـه اللـه تعـالى څخـه اسـتغنا (لـه خلکـو لاپروايـي) غـواړي، اللـه تعـالى بـه يـې (دخلکـو لـه احتياجه ) خلاص کړي او که څوک له صبر څخه کـار واخـلي، اللـه تعـالى بـه يـې (پـه سـختيو) ځـواکمن وګرځوي. صحيح البخاري (٢/ ١٢٢)

ابن حجر ﷺ دغـه معنـا پـدې ډول ځرګنـدوي، وايي: (صَبَّرَهُ اللهُ) دا مطلب چـې اللـه تعـالى بـه يـې ځواکمن ګرځوي او نفس به يې په کابو کې راولي څو هغه ورته تابع او منقاد شي چې کړاوونه برداشت کړاى شي نو دغه مهال الله تعالى له هغـه سره مـل وي، پـه خپلو غوښتنو کې يې کاميابوي.

تر ټولو غوره صبر هغه دى چې غوسه، مايوسي او شکاياتونه پکې نه وي، همدا معنا د پيغمبر ﷺ پدې قول کې ده چې فرمايي:

هيڅ يوه بنده داسې نـه دى چـې طـاعون (وبـا) ورته راغلې وي او هغه په خپل ښار کـې پـاتې شي او پدې پوهيږي چې ماسيوا له هغه څه چـې اللـه تعـالى ورته ليکلى وي نور هـيڅ (ضرر) ونـه رسـيږي، مګـر خامخا به هغه تـه اللـه تعـالى د شـهيد (هـومره) اجـر ورکوي. ابن حجر رحمه الله وايي: د صابراً معنـا داده چې پريشانه او خفه نه وي، اللـه تعـالى تـه يـې ځـان سپارلى وي او د هغه په فيصله خوښ وي. کلـه چـې رسول الله ﷺ ته د دعوت په لومړيو کې په صـبر امـر وشو نو د ښکلي صبر ورته وويل شول: {فَاصْبِرْ صَبْرًا جَمِيلًا} [المعارج: ٥]. نو اې پيغمـبره ! ښـکلى صـبر

وکړه ! ښایسته صبر دا معنا چې نه پکې وېره وي نه پکې له الله تعالی سیوا نورو ته شکایت وي.

هغه صبر هم ستایل شوی چې په الله تعالی باندې تمام بروسه او بشپړ یقین وي، دغه یقین چې مجاهد پرمخ بیايي، نه پرشا... (یو سړي وویل: اې د الله تعالی رسوله! تاسو ما پوه کړئ که چېرې زه د الله تعالی په لاره کې ووژل شم، له ماځخه به ټول ګناهونه معاف کړای شي، هغه ﷺ وفرمایل: «هو! که چېرته ته د الله تعالی په لاره کې ووژل شې، او ته صبرکوونکی، اجرغوښتونکی یې، پرمخ تلونکی یې، نه پرشا ...»

د مصیبت پرمهال د یقین له کبله ښایسته شوی صبر همدا دی چې سمه لاره له سړي ورکه نه کړي او په چټیاتو ویلو سره یې خرابه نه کړي. په حدیث قدسي کې راځي: «ابنَ آدم، إن صبرت واحتسبت عند الصدمة الأولى لم أرضَ لك ثوابًا دون الجنة» اې بنی آدمه ! که تا په اوله صدمه (ناڅاپي مصیبت) کې صبر وکړ او اجر دې وغوښته، زه به تاته په ثواب کې له جنت پرته بل څه خوښ نه کړم). خطابي ﷺ وایي: معنا دا چې هغه صبر چې سړی پرې ستایل کیږي، مراد ترې ناڅاپي مصیبت دی، داسې نه چې څه موده وروسته یې صبر کړی وي، ځکه د ورځو په تېرېدلو سره سره کمیږي او آرامیږي.

یقیناً هغه کسان چې د صبره ډک ژوند یې کړی وي، د هغې خوند یې ځکلی وي، میوه یې شکولې وي، نو خامخا به یې د کړاو پرمهال نیولي دریځونو آثار هم پرېښي وي، پیغمبر ﷺ فرمایي: «.. وما أعطي أحد عطاءً خيراً وأوسع من الصبر» هیچا ته هم له صبر څخه غوره او پراخه برخه نه ده ورکړل شوې. عمر ﷺ وایي: زموږ ژوند په صبر سره غوره ګرځول شوی.

پیغمبر ﷺ د صبر ستاینه پدې وینا کړې چې: صبر رڼایي ده. امام نووي ﷺ وایي: دلته ترې محمود (ستایل شوی) صبر مراد دی او صبرکوونکی به د هغې په رڼا کې همیشه خپله ورکه لاره رڼه موندې او پرې روان به وي)، پیغمبر ﷺ د صابرینو ژوند څخه حیرانتیا وښودله چې ژوند یې له رحمتونو څخه ډک وي، فرمایي: **د مؤمن کارونو د حیرانتیا وړ دي، ټول کارونه یې په خیر وي، او دا د بل چا لپاره نه بلکې یوازې د مؤمن لپاره دي، که هغه ته خوښي ورسي، شکر باسي، نو دهغه لپاره غوره والی دی، او که هغه ته ضرر ورسي، هغه صبر کړی وي، نو د هغه لپاره پکې خیر دی.** صحیح مسلم (٤/ ٢٢٩٥) الله تعالی فرمايي: {... وَلَئِن صَبَرْتُمْ لَهُوَ خَيْرٌ لِّلصَّابِرِينَ} [النحل: ١٢٦] او که تاسې صبر وکړئ، خامخا به دا د صبر کوونکو لپاره ښه وي. د صبرناکه ژوند ترټولو مهمه ګټه داده چې صفونه سره بېلوي او د مېړنیو استعدادونه برسېره کړي...{وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ حَتَّى نَعْلَمَ الْمُجَاهِدِينَ مِنكُمْ وَالصَّابِرِينَ وَنَبْلُوَ أَخْبَارَكُمْ} [محمد: ٣١]. خامخا به موږ تاسې په ازمایښت کې اچوو، ترڅو موږ تاسې څخه مجاهدین او صابرین وپېژنو او ستاسې حالت وڅېړو.

ځینې خلک دا ګمان کوي چې صبر د سړي لپاره ذلت دی سره له دې چې پیغمبر ﷺ پدې ټینګار کړی چې «...هیڅ یو سړی داسې نه دی چې په هغه دې ظلم شوی وي، مګر خامخا به الله تعالی ورته عزت زیات کړی وي». پیغمبر ﷺ په کار کې کلک

دريځـي او جـدي صـبر کـوونکي تـه داسـې زيـرى ورکړي، ځنګه چې يې ابن عباس ته ورکړى و:

«ته پوه شه په صبر کې کوم څه چې ته بـد ګڼې هغې کې ډېر خير نغښتى دى او يقيني چـې لـه صـبر سره مرسته راځي، له مصيبت سره خلاصون راځـي او سختۍ سره اساني وي».

اسلامي ټولنه هغه ده چې يو بل ته پکې په صـبر سره نصيحت کول او د يو بل خيرخواهي غوښتل پکې عام وي، کله چې پيغمبر ﷺ يوې ښځې باندې تېرېده او هغې له يو قبر سره فرياد کاوه، ورتـه وې وفرمايـل: «اتقي الله واصبري» اللـه تعـالى څخـه وډاره شـه او صبر وکړه. کله چې هغې ورته دخپلې لور په ژبه حـال راولېږه چې زوى يې ځوانيمګرک شو نو هغه يې پدې خبره واستوله: «**إن لله ما أخذ وله ما أعطى وكل عنـده بأجل مسمى، فلتصبر ولتحتسـب ...**» يقينا الله تعـالى لره (اختيار) دى چې څه اخلي اوځـه ورکـوي، هرڅـه دهغه سره په معلومه نېټه دي، نو هغه دې خامخا صبر وکړي او له الله تعالى څخه دې اجر وغواړي. او هغه ټولنـه پـه زوال او زيـان کـې ده چـې هغـوى کـې دا ځانګړتيا نه وي چـې: {**...وَتَوَاصَـوْا بِـالْحَقِّ وَتَوَاصَـوْا بِالصَّبْرِ**} [العصـر: ۳] يو بل ته دحق نصيحت او دصبر ښوونه وکړي.

لدې وجې چې د صبر څکه ډېره ترخـه وي، نـو انسان بايد خپل ځان ته ژمنتيا ولري او په ښکلي صـبر توښه خپله کـړي، او هـر هغـه څـه چـې اللـه تعـالى صبرکوونکو لپاره د صبر له وجـې د ګنـاهونو بښـلو ، درجو لوړېدلو او نيکيو زياتېدلو سره تيار کړي، البته په استحضار (رايادولو) سره يـې مسـلمان تـه د صـبر او حوصلې په زياتولو کې مرسته ورکوي، پـه يـوه کيسـه کې راځي چې يوه ښځه په غورځېدو وه چـې پيغمـبر ﷺ هغه واکـداره وګرځولـه، ورتـه وې فرمايـل: «سـتا خوښه چې صبر کوې او سـتا لپـاره جنـت وي او کـه خوښه دې وي، سـتا لپـاره دعـا وکـړم او اللـه تعـالى عافيت درکړي نو هغې وويل: زه صبر کوم.

په يوځاى کې درې کسان عبدالله بن عمرو بـن العاص ته راغلل، هغه ته يې د مصارفو ، سپرلۍ او څه سامان شکايت کاوه، نو هغه اختيارمند وګرځـول: کـه ستاسې خوښه وي نو موږ ته رجوع وکړئ، څـه چـې الله تعالى درته برابر کړي و، هغه به درکړو او کـه مـو خوښه وي ستاسې يادونه به مشر تـه وکـړو او کـه مـو خوښه وي نو حوصله وکړئ ځکـه مـا لـه پيغمـبر ﷺ څخه اورېدلي دي چې فرمايل يې: «**فقراء المهـاجرين يسبقون الأغنياء يوم القيامة إلى الجنة بأربعين خريفًـا**». د مهاجرينو نيستمن به دقيامت په ورځ له شتمنو څخه څلويښت خريفه (خزانونـه) مخکـې جنـت تـه ځـي، هغوى وويل : بيا نو صبر کوو، هيڅ هم نه غواړو.

د پخوانيو نيکانو خلکو د واقعاتو په يـادولو سره هم سړي ته استقامت او صبر راځي، دهغـوى پـه يـاد سره زړه ته تسله ورکول کيږي، کله چې پيغمبر ﷺ تـه يادونه وشوه چې يو سړى د هغه په وېش بانـدې بـدي وويله، هغه وفرمايل: «**يرحم الله موسى قد أوذي بأكثر من هذا فصبر**» الله تعالى دې پر موسـى رحـم وکـړي چې هغه لدې څخه په ډېـرو تکليفونـو بانـدې زورول شوى، خو صبر يې کړى. او قرآن کريم هغـه تـه دغـه معنا پدې ډول بيانوي: {فَاصْبِرْ كَمَا صَـبَرَ أُوْلُـوا العَـزْمِ مِـنَ الرُّسُـلِ} [الأحقـاف: ۳۵]. نـو اې پيغمـبره ! تـه هغسې صبر وکـړه ځنګـه چـې عـزم او هـوډ لرونکـو پيغمبرانو کړى و.



هغه وخت مصيبتونو ته غېږ ورکـول او کړاوونـو سره اوږه ورکول لا په نفس اسانه کېـدلای شي ، چـې کله ته دا وفهموې چې مصيبت او پر مصيبت صبر پـه دين کې دسختوالي او ټينگوالي پـه انـدازه راځـي، لـه پېغمبر ﷺ څخه پوښتنه وشوه کوم خلک کړاو سره ډېر مخ کېدونکي دي، نو هغه وويل: پېغمبران بيـا د دوی نمونې بيا دهغوی نمونې، بنده د خپل ديـن پـه انـدازه مبتلا کيږي، که هغه په دين کـې ثابـت قدمـه وي، نـو مصيبت به يې هم سخت وي او که هغه پوست وي نو دخپل دين په اندازه به په مصـيبتونو کـې ښـکېل شي، ترهغو به بنده پورې وي چې کله يـې پريـږدي او روان وي او هيڅ کومه خطا ورپورې پاتې نه وي.

په يو بل حديث کې راځي: پدوی کې به يـو پـه نيستۍ مبتلا شو تردې چې له چپن پرته به يې نور څـه نه موندل بيا به يې هغه پـه مـنځ وشـکوله، وابـه يـې غوستله يا به په سپږو مبتلا شو ترهغـې چـې وبـه يـې واژه. دوی به خپل مصيبت ته دومره خوشـاله و، لکـه تاسې چې په ورکړه (صدقې) خوشاليږئ.

کله چې صبر کوونکي پدې پوه شي چـې صـبر څومره گناهونه له اوږو غورځوي، بيا به نور هم د الله تعالی رحمت ته لېواله وي او د الله تعالی لخوا ورته ليکلې تقدير باندې ډېـر خـوښ وي، کلـه چـې ځينـې خلک نيک عمل نه لري چې هغوی يې مسلسله ترسره کـړي او درجـې پرې بلندې کړي، بيـا نـو هغـوی د صبر په اعلی مراتبـو سره هغـې تـه رسـيږي حـديث دی: «**إن الرجـل ليكون له المنزلة عند الله فما يبلغها بعمل، فلا يزال الله يبتليه بما يكره حتـى يبلغـه إياهـا**» (يقيناً د هر سړي لپاره د الله تعالی په نزد يو مقـام وي، که هغې ته په عمل نه شي رسېدلای نو هميشه يې الله تعالی په هغو ناخوښيو (سـختيو) کـې ښـکېلوي څـو پورې هغه مقام ته يې ورسوي). د دغو خلکو مقـام او منزلت لپاره به ډېر دنيادار شتمن خلـک ارمـان کـوي: «**ليودُّن أهـل العافيـة يـوم القيامـة أن جلـودهم قُرِضـت بالمقاريض مما يرون من ثواب أهل البلاء**» «د قيامـت په ورځ چې عافيت لرونکي د مصيبت ځيلـو ثوابونـه وگوري نو دا به خوښ وگڼي چې د دوی پوستکی پـه قينچيانو پرې شوی وای مگر دا ثواب يـې پـه نصـيب وای». دا له هغـې مـا سـيوا چـې اللـه تعـالی د صبر کوونکــو سره مــل دی : {**... وَاصْــبِرُوا إِنَّ اللَّــهَ مَــعَ الصَّــابِرِينَ**} تاسـې صـبر وکـړئ يقينـا اللـه تعـالی لـه صبرکوونکی سره مل دی.[الأنفال: ٤٦]. او لـه هغـې ماسيوا چې له هغې پرته چې الله تعالی خپلـو صـابرو بندگانو سره وعده کړې ده. {فَاصْبِرْ إِنَّ وَعْدَ اللَّهِ حَقٌّ} نو ته صبر وکړه، يقينا د اللـه تعـالی وعـده رښـتينې ده [الروم: ٦٠]

نور بيا ...




# طالب پلاوی د هېواد ټولو اقشارو

## د یو موټي ربښتوني ممثل په توګه!

سعد کتوازی

کابو میاشت وړاندې د خپل نوعیت۲۰کلنو لویو جرګو په لړ کې یوه بله هم په کابل کې را غونډتل شوې وه چې د قطر د موافقې له مخې پاتې۴۰۰طالب بندیانو د خوشي کولو پرېکړه یې وکړه، ښايي دا د دغو نادوده جرګو وروستۍ هغه وي. دا چې د جرګې د ګډونوالو په اعتراف د غه پرېکړه لا له وړاندې د امریکایانو له لوري د کابل رژیم ته ابلاغ شوې وه، نو اشرفغني هم زړه نازړه خپل هغه فرمان لاسلیك کړ چې د یادې پرېکړې د پلي کولو رنګ یې درلود، خو په همدې مهال استرالیا هېواد پر أمریکا غږ وکړ چې په نفوذي برید کې د استرالیایي عسکرو پر وژنه تورن طالب دې نه خوشې کوي او دا غږ پر همغه ورځ د اشرفغني د فرمان بېرته اخیستلو بهانه شوه، ورپسې فرانسې هم ورته غږ وکړ او تر یوې مودې نور هم د جرګې د پرېکړې پلي کېدل !! وځنډېده.

دلته یې پر دې نه غږېږم چې د کومې موخې لپاره، چا راغوښتې، د چا تر مشرۍ لاندې دائره، پرېکړه یې څرنګه او لاسته راوړنې؟ یې څه او...څکه دومره ارزښت یې درلود نه او بل خوا له پیله هم هرڅه واضح و او بیا وروسته د جرګې د ګډونوالو اعترافونو هم تائید کړل، خو د (بین الأفغاني مذاکرات) تر عنوان لاندې په نږدې راتلونکي کې ترسره کېدونکې (د افغانانو خپلمنځي ناستې) ته یې زما پام واړاوه او په دې ډول یاده لویه جرګه زما لپاره یواځې د دې لیکنې یوه سوژه شوه.

د افغاني تاریخ او فرهنګ په قدامت، قداست او قاموس کې لویه جرګه یوه داسې ملي عنعنه او اصیل روایت دی چې له برمه یې د افغانانو/افغانستان ټول تاریخ او پرون ویاړلي دي، د لویې جرګې اصالت د ازادۍ د روحیې او خپلواکۍ د ذهنیت پر بنسټ د هغې دائرول دي چې موخه یې د بهرني اشغال ټغر ټولول او له هره اړخه او په ټولو برخو کې د افغانستان خپلواك جوړول وي.

لرغونی او پخوانی افغانستان به چې کله له کوم بهرني او یاهم کورني ګواښ سره مخ کېده، نو قومي مشرانو او چارواکو به یې د ولسي۔ مخورو، اشرافو او داعیانو لویه جرګه راغوښتله چې په پایله کې به یې له ګواښ څخه د ژغورنې او د ستونزې سالم او معقول حل ته لاره پرې پیدا کړه.

پخوانۍ اریانا (افغانستان) د ریګوېدا په وختونو کې د (سمیتي، سبها) په نومونو دوه لویې جرګې لرلې چې د ملي جرګو ارزښتونه او صلاحیتونه یې درلودل، په دې جرګو کې به ولسي مخورو، اشرافو او تردې چې د وخت واکمن به هم پکې ځیني وخت ګډون کاوه، پرېکړې به یې د پام وړ وې او د لویو جرګو په څېر ماضي یې لرله.

د جګړه ییزو او سیاسي تحولاتو او نووښتونو له راتلو سره یې سترو ملي جرګو ته تغیر وکړ چې د پېښو او ستونزو پر مهال به وخت ناوخته د هېواد ملي او اسلامي مشرانو راغوښتې، له دې جملې د ایران صفویانو د استعمار پر وړاندې میرویس نیکه راغوښتې لویه جرګه وه چې په کندهار کې د یاد استعمار د والي (ګرګین) پر وژلو منتج شوه، پر۱۷۰۹زېږدیز کال هم د نیکه د همداسې یوې لویې جرګې له لارې پر یرغلګرو صفویانو د بلوسیو پلان طرحه شو.

همدا راز د لوی أحمدشا بابا له لوري را بلل شویو لویو جرګو په لړ کې پر۱۷۴۷زېږدیز کال د

کندهار په ښېر سرخ زیارت کې هغه تاریخي لویه جرگه چې د لوی افغانستان بنسټ یې پرې کېښود او د نړۍ په کچه یې زموږ سیاسي او جغرافیوي هویت ثبت کړ، دغه رنگه پر۱۸۶۵زېږدیز کال د أمیر شېرعلي خان۲۰۰کسیزه جرگه، تر أمان الله خان پورې نورو شاهانو رابللې جرگې، پر۱۹۲۴او۱۹۲۸زېږدیزو کلونو د أمان الله خان جرگې او په دې بهیر کې د داؤد خان تر لویې جرگې پورې، که څه هم له أمیر شېرعلي خان را وروسته هغو به خپلې موخې هم لرلې وې، خو ټولو لویو جرگو خپل قداست خوندي ساته چې ملي او اسلامي ارزښتونو ته یې لومړیتوب ور کاوه او د دائرېدلو ښکاره موخې یې بشپړولې.

توره کمونیستي کودتا د دې بهیر پای و چې لویې جرگې سرچپه وکارېدې او خپل لرغونی تقدس یې له منځه لاړ، په لومړي ځل د دغه سپېڅلي او عنعنوي (لویې جرگې) تر عنوان لاندې د شوروي گوډاگیانو (ببرك کارمل، ډاکټر نجیب) سرچپه جرگې را وغوښتې ترڅو روسانو ته په هېواد کې مشروعیت ورکړي، ترې را وروسته د څوکۍ قرباني ربأني د واك ترلاسه کولو په خاطر په هرات کې لویه جرگه، پر۲۰۱۱زېږدیز کال د أمریکایانو او کرزي لخوا رابلل شوې، د اشرفغني د تېر کال او همدغه تازه جوړه کړې لویه جرگه چې زموږ د گران هېواد د اشغال له پیل سره سم د بن کرغېړنې ناستې څخه پیل شوې د کارمل او نجیب د جرگو تکرار او د خپل اصالت سرچپه وې، په دې ډول اوس ډېرې دارنگه دودیزې، ملي او تاریخي عنعنې او روایتونه بشپړ سپك او د پردیو موخو لپاره د لاس پاك په توگه وکارول شول.

د تېر لمریز کال وروستۍ (کب) میاشتې پر۱۰مه د قطر هېواد په دوحه کې د طالبانو او أمریکا ترمنځ د اشغال د خاتمې او سولې تړون لاسلیك شو، د یاد تړون له مخې له لاسلیك وروسته په لومړیو۱۰ورځو کې به د طالبانو۵۰۰۰او د کابل حکومت۱۰۰۰بندیان خوشي کېدل او وریسې به بالفور (د افغانانو خپلمنځي ناسته) ترسره کېده چې د دوحې د مذاکراتو له مهاله بیا تر اوسه د (بین الأفغاني مذاکرات) په نوم یادېږي.

خو د دې تړون له توافقاتو د امریکا د مستقیمو او نا مستقیمو پرلپسې ډیپلوماټیکو، نظامي او تخنیکي تخطا گانو له أمله لا تر اوسه څه د پاسه شپږ میاشتې دغه مذاکرات یا ناسته ځنډېدلې چې دا دی له خېره د بندیانو د بشپړ خوشي کېدو سره سم د دغو مذاکراتو/ناستې هیلي تر بل هروخت ډېرې او هلي ځلي ورته گړندۍ شوې دي او پېلیزه مرحله به یې نن شنبه ترسره شي.

دا چې له أمریکایانو سره مذاکراتو یواځې سیاسي او ډیپلوماټیك اړخ درلود، نو د طالبانو پلاوی تر ډېره د دوی له سیاسي څېرو تشکیل شوی وه، خو بین الأفغاني هغه بیا د سیاست او ډیپلوماسۍ ترڅنگ دیني، فکري او ټولنیز اړخونه هم لري چې له أمله یې طالبانو د دغو مذاکراتو لپاره خپل پلاوي کې پراخ بدلونونه را وستي او یو شمېره زبده دیني عالمان یې ورکې زیات کړي دي.

دیني عالمان چې زموږ په مذهب او افغاني کلتور کې تر ټولو لوړه رتبه لري، د ټولني مخکښ خلك بلل کېږي، د ولس د ټولو اقشارو پر نبض او افکارو تر بل هرچا ښه پوه او پر هغوی برلاسي وي چې رښتیا هم یې په یاد پلاوي کې زیاتول او د هغه مشري ورته سپارل یو ښه او أغېزمن گام دی، دوی د۴۰کلنو ناورینونو څخه أغېزمتنیا او بیا د هغې چاره ښه درك او ببرته له باطلو افکارو د خلکو بشپړه مغز مینځنه کولای شي.

د طالبانو د غورځنگ له پیله تر اوسه د هغوی په لیکو کې د مشرانو او منسوبینو گمارنې خورا دقیقې او پر ځای ختلې، هر وخت یې ټاکلي مشران له اړوندي دندې پرته د نورو دندو هم بشپړه وړتیا لري چې له أمله یې د پخواني وخت د منځنۍ سویې مشران هم اوس د لوړې سویې دندې پرمخ وړلای شي او هیڅ وخت په هیڅ ډول شرائطو کې دغه غورځنگ له قحط الرجال سره نه دی مخ شوی، له اشغال را وروستو یې هم د والیانو، کمېسیونونو د مشرانو، نظامي قوماندانانو، فرهنگي فعالینو او تخنیکي غړو پر ځای گمارنو پر مټ خپل غورځنگ له پرزېدو وروسته بیا ځلي بریالیتوب ته ورساوه.

د ډیپلوماټیکو او سیاسي فعالیتونو له پیل سره او بیا د هغو په جریان کې له شرائطو سره سم وخت پر وخت د قطر دفتر مشرانو او غړو بدلونونه، د مشر په توگه د شیرمحمد عباس ستانکزي صاحب او بیا

ورپسې د ملا صاحب برادر آخند او د دفتر د غړو په توګه د ګوانتانامو د پينځه تنو طالب مشر انو، مولوي أميرخان متقي، جناب انس حقاني ټاکنه او تازه د بين الأفغاني مذاکراتو لپاره په مذاکراتي ټيم کې بدلونونه هغه څه دي چې لکه ورته په پيل کې ټمه وه او بيا يې له أمريکايانو سره يونيم کال موده کې۱۱پړاوه مذاکرات په برياليتوب پر مخ يوړل او د اشغال د خاتمې پر تاريخي تړون منتج شو، اوس هم له نويو بدلونونو سره تر پخوا لا ورته ټمه غښتلې او د بريا چانس يې ځواکمن او پراخ شوی.

د بين الأفغاني مذاکراتو/ناستې د طالبانو پلاوي مشرتابه محترم شيخ عبدالحکيم حقاني صاحب حفظه الله د علم، فقاهت او درايت له غوره ملکې او د درك له ګڼو غښتلو منابعو څخه برخمن شخص دی، په خپله سليقه د هېواد تاريخي او جغرافيوي نزاکتونه او حساسيتونه په اسانۍ سره درك او پېژندلی او ورته د حل برياله فرموله موندلی شي.

د اشغال او جګړې له پای ته رسېدو وروسته د طالبانو تر ټولو مهم رسالت او مسئوليت د هېواد والو او ځوان نسل فکري پوهنه او روزنه او له فکري اشغال څخه يې د خلاصون چاره ده چې له بين الأفغاني ناستې څخه به ورته لومړنۍ رسېدګي کېږي، نو د دې لپاره هم د شيخ صاحب په څېر يو د هر اړخيز درايت ښتن شخص ته اړتيا وه چې بايد په بين الأفغاني مذاکراتو کې (چې د رښتوني ملي لويې جرګې حيثيت لري) د هېواد د ټولو اقشارو د يو موټي رښتوني ممثل په توګه طالب پلاوی ترې برخمند وي.

بين الأفغاني مذاکرات/ناسته طالبان د ملي کچې جهتونو څخه په دې شرط راغواړي چې د ملي حيثيت په لرلو به له ځان پرته د هيڅ ډلې، اداري او جهت استازولي نه کوي او ناسته به له مليتوب پرته هيڅ جهت نلري، د کابل اداري غړي چې د دې ناستې د سبوتاژ پرلپسې هڅې يې کړي او کوي يې، هغه به هم له دې حيثيت سره پکې ګډون کوي، دغه ناسته د افغانانو ترمنځ د نږدې کېدو، د وخت پر غوښتنو پوره يوې ملي داعيې پر بنسټ د راتلونکې نظام د څرنګوالي، هېواد او ولس ليدلو زيانونو د تلافي او جبران، د هغوی پر وړاندې شته ګواښونو د مخنيوي او د باثباته، ازاد، اباد او خپلواك افغانستان جوړولو په موخه دائرېږي چې دېته پر کتو ښايي ننګونې، څو پړاوونه او تر يوې مودې دوام هم ولري.

که څه هم د دغې ناستې نوم مذاکرات او د ځينو په باور به پکې دوه مخالف جهتونه سره مخامخ کېږي، خو محور او موخې يې هماغه دي چې د کورنيو کشالو په اړه يې يوه رښتوني ملي لويه جرګه لري او د کشالې اړوند جهتونه پکې له خپلو ملي روايتونو سره سم يو له بله تېرېږي، نه دا چې دغه ناسته په رښتيا کومه مذاکره او جوړ جاړی دی.

دا چې له يوې خوا دغه ناسته د ملي کچې جهتونه تشکيلوي او له بلې خوا يې موخې ټولې هغه دي چې په لرغوني افغانستان کې به ورته لويې جرګې راغوښتل کېدې، له نېکه مرغه بين الأفغاني مذاکرات/ناسته په حقيقت کې له خپل اصالت سره د لويې جرګې په مانا ده، ۴۰کاله وروسته دغه ملي عنعنه د طالبانو پر لاس يوځل بيا را ژوندۍ کېږي، پر مټ يې د هېواد۴۰کلن ناورين پای مومي، هېواد او ولس مو د ازادۍ د روحيې او خپلواکۍ د ذهنيت پر بنسټ د بهرني اشغال ټغر ټولولو او له هره اړخه د افغانستان باثباته او خپلواك جوړولو له تکل سره پخوانۍ ازادۍ، خپلواکۍ او برم ته ور ګرځوي او دا به د همدغې ملي وړمه ناستې برکت وي ان شاءالله.

طالبان د سياست ميدان ته هم په لومړي ځل لا په بشپړه ساده ملي جامه کې، پر ملي روايتونو برابر او له خپلواکې ملي داعيې سره خپلو ملي عنعناتو ته ژمن ننوتلي او پر نړيوال ستېج او بيا له أمريکايانو سره۱۱پړاوه مذاکراتو کې يې د هغوی رښتوني انځورګري کړې ده، په بين الأفغاني ناسته کې هم چې د دوی پلاوی محوري او د افغانستان د ټولو اقشارو د يو موټي ممثل رول لري او له همدې ناستې د پردي فرهنګ ټغر ټولولو او خپل اصيل أفغاني فرهنګ د اعادې تابيانيسي، خپله همدغه ناسته هم د ملي لويې جرګې ارزښتمن او شهکار روايت په بڼه ترسره کېږي.

الله تعالی ته لاس لپه کوو چې دغه ناسته هم له ټولو پړاوونو سره برياله پای ته ورسوي او د هېواد، هېوادوالو او ټولو مسلمانو ملتونو لپاره يې د ازادۍ، خپلواکۍ او سوله ايز ژوند زېری او پيلامه وګرځوي.



# د کډرونو په روزنه کې
# د قائد پیغمبر ﷺ کردار

م عبدالله

نني عصر کې د اسلام دښمنانو چلونه او فریبونه خورا هر لوري ته متوجه دي، هیوادونه مستعمره دي، د مسلمانانو رهبري په بې ساري ډول کمزروې شوې، مسلمانان په خپل منځ کې په ژبني، قومي او سمتي اختلافاتو سره تیت او پراګنده دي، له اخلاقي لحاظه لویدلي، نو دغسې انحطاط او لویدلي حالت کې د مسلمانانو اساسي کمزوري له دین څخه لرې والی دی.

له بده مرغه مسلمانان د خپلې اسلامي تګلارې د پرېښودلو له وجې نن کم ځواکه، مغلوب ، له آزادۍ بې برخې او د نهیلۍ په ګرداب کې قرار لري، خو بیا هم مسلمانان کولای شي چې له داسې تپو تیارو او سختو لالهاندیو سره مخه ښه وکړي، دوی لپاره د پیغمبر صلی الله علیه وسلم ځانګړنې، خصوصیتونه او لارښوونې د لارې مشالونه دي.

نو لومړی رازو د هغه ﷺ لخوا د صحابه و په روزنه کې عملي حکمت څه و؟ او موږ څنګه کولای شو چې دهغې په رڼا کې، د نني عصر دښمنانو پوځي، فکري او رواني یرغلونو توپانونه مخه ډب کړو؟ دا راز د پیغمبر صلی الله علیه وسلم مسلسله ۲۳ کلنه مبارزه او دعوت، بیا دهغه په لاس روزل شویو شاګردانو څنګه وکولای شول په کمه موده کې د نیمې نړۍ لپاره یو اعجاز لرونکی انقلابي حرکت جوړ شي او دهغې زمانې د استبداد او مطلق العنان سترې طاقتورې امپراطورۍ فارس او روم یې دړې وړې کړې چې له امریکا او روس سره یې تشبیه کېدلای شي!...

زموږ خوږ پیغمبر ﷺ د ټول انسانیت لپاره خواخوږی او لارښود رالیږل شوی، هغه زموږ لپاره په هر علمي، سیاسي ، جهادي او قیادي ډګرونو کې سرلاری وه، یو غوره نمونه او قدوه ده، الله تعالی فرمایي: {لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ} [الأحزاب: ۲۱] په یقیني توګه، ستاسې لپاره د الله تعالی پیغمبر دنیکۍ یو خورا غوره نمونه ده.

څنګه چې د هغه تائید د الله تعالی لخوا شوی و، په هر میدان کې یې ورسره الهي توفیق او مرسته مل وه، د هغه ځانګړی اخلاقي تعامل له

خپلو ملګرو (صحابه) او شاګردانو سره، د مینې او الفت، د ځان ځارولو، فداکاریو فضاء برابروله.

له همدې کبله د هغه ﷺ ژوند د عالم لپاره په علمي ډګر کې، مجاهد لپاره دجهاد په میدان کې، د یو سیاستمدار لپاره په سیاست او د امیر او رهبر لپاره په مشرتوب او رهبرۍ کې غوره نمونه او قدوه ده.

هغه ﷺ د یوې ټولنې په جوښت او حتی د یو تمدن په جوړولو کې ډېر په اسانه وکولای شول، چې خپل عمل او کړنلارې سره ؛ په انفرادي او اجتماعي کې ژوند کې مهم کردار اداء کړي.

همدا وجه وه ، چې الله تعالی د ټول انسانیت لپاره استازی او د رسالت اداء کولو لپاره په ګڼو ځانګړنو او میزاتو ښایسته ګرځولی و، د هغه هر عمل، وینا او حکم د تیاره ملتونو لپاره رڼا او مشال وګرځېدل، نو راځو د پیغمبر ﷺ په سیرت کې ډېر څه پیدا کولای شو چې زموږ لپاره درس، وعظ او عبرت شي او د هغې په خپلولو سره د اسلامي امت مات شوکت اعاده کړو .

## غوره انتخاب (ټاکنه)

په لومړي سر کې راځو د کدرونو او اتلانو په روزنه کې اساسي راز ، غوره انتخاب او ټاکنه ده، په پوره باور سره ویلای شم، چې د هغه مناسب او سمه ټاکنه وظایفو ته په سولیز او جګړییز حالتونو کې یواځنی د کامیابۍ راز دا ګڼل کیږي، چې هغه ﷺ په ډېره دقیقه توګه یو وار خپل ملګري پېژندل مطلب دا چې د اسلامي ټولنې جوړښت لپاره د هغوی هر ډول مزایا او خصوصیتونه معلومول اړین و، ګویا دا د ټولنې غوښتنه وه او په علیاء مصالحو او د مسلمانانو خیر پورې تړلې خبره وه.

## د عیبونو تداوي :

هغه ﷺ به ددې ترڅنګ د هر صحابي عیبونه هم پېژندل، مګر په هغې به یې له ډېرې حیاء ځان ناخبره اچوه، هر وخت به یې په صحابه و کې غوره صفات راڅرګندول، صحابه و ته به یې هم د خلکو په عیبونو او نقصانونو د پردې اچولو او ځان ناګاره کولو امر کاوه او ورسره به یې دوی ته دخپلو نورو ورونو د ښو خصلتونو او مناقبو تذکیر پداسې ډول تلقین کاوه چې پر ځانګړنو یې تعجب وښودل شي یا تقدیر شي.

د هغه ﷺ دا ډېر ښایسته اخلاق او سلوک و چې ټول عمر به یې هم که په یو چا کې بدخصلت لیده، د هغه سړي د ستاینې سره - سره به یې په ډېر حکمت، نرم نصیحت او پلرنۍ شفقت په څېر به یې د بدو اصلاح او تداوي کوله.

دغې نقشې او حکیمانه کړنلارې په ټولنه کې ډېر مېړنیان او سړي وزېږول، هغه ﷺ خلک ماتول نه، بلکې شوټ او شل یې سمول، نه یې هم بربادول ، البته د حال او راتلونکې دواړو غمه یې کوله، چې د هغه د ښو ځانګړتیاوو په تذکیر سره به د هغوی عیبونه کمزوري کېدل ، ورځ تربلې به کمېدل څو چې د ابد لپاره به یې ترې کډه وکړه.

پیغمبر صلی الله علیه وسلم دا ادارک لاره چې هر انسان دخلقت له مخې خامخا یو نقص لري، بد او ښه صفات لري خو د انسان شرافت هله معلومیږي چې په مخ کې یې دچا عیبونه یاد شي، موږ بیا ګورو چې هغه بیا څه کوي؟ هغه ﷺ به د یو چا د منفي اړخونو بحث دهغه په مثبتو صفاتو اړوه، چې هسې نه خدای مکړه هغه ته د ابد لپاه کنځلې او پیغور شي.

## د مقام او رتبې له مخې مناسب استخدام

د یو حرکت او نهضت په اساساتو کې دا هم ده چې څنګه وکولای شي اهل کار خلک په مناسبو ځایونو کې استخدام کاندي او هر چاته په خپل منزلت او مقام ورکولو سره وړ مسئولیت متوجه کړي، څنګه چې حدیث کې راځي:

«أَنْزِلُوا النَّاسَ مَنَازِلَهُمْ» ژ: یعنې خلکو ته دهغوی د منزلت، منصب او مقام سره سم د دین، علم، او شرافت ته په کتلو مناسب سلوک او تعامل وکړئ !

همدا تعامل د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د صحابه ترمنځ موجود و، څوک چې په مسلمانانو کې شتمن و، مسلمانانو یې له مال څخه ګټه ولیده، هغه سړی به یې سختو جنګونو او اتلولۍ ښودلو ته نه وړاندې کاوه.

څوک چې په رهبرۍ او مشرۍ ځانګړي و، هغوی یې د ټولیو او غزواتو لپاره امیران ګمارلي و.

څوک چې په ځاني زړورتیا او باتورۍ غښتلي و، مګر د مشرتوب صلاحیت یې نه درلود هغوی یې د زړورتیا په لومړنیو مبارزینو کې وړاندې کړل، یا یې د فداکاریو لپاره د یوسرتیري په توګه دنده سرته رسوله، ځینو هغو صحابه و چې پخې رایې درلودې، د ژور فکر خاوندان و؛ هغوی څخه یې د رایو ، تجربو او مشورو په اخیستلو کې ګټه اخیسته ، کوم صحابي چې د قوي اشعارو او بلیغو اورژبو وینا او د مبارزې لیاقت درلود، له هغوی څخه مسلمانانو په شعر او بیان ، مدح او اعلام کې ګټه پورته کړه او همداسې نور...

پیغمبر صلی الله علیه وسلم دهجرت په اووم هجري کال د حدیبیې له صلحې وروسته چې کله عمرة القضاء کوله، مکه مکرمه کې یې د خالد بن ولید ورور ولید څخه پوښتنه وکړه: خالد چیرې دی؟ بیا هغه ﷺ ورته وفرمایل: «مَا مِثْلُ خالد یجهل الإسلام ولو کانت نکایته وحده مع المسلمین علی المشرکین لکان خیرا له ولقدمناه علی غیره». دخالد په څېر سړی دې ولې په اسلام سر نه خلاصوي! که چېرته هغه خپله دښمني په مشرکانو باندې له مسلمانانو سره ملګرې کړې وای، دده لپاره به دا غوره وه او موږ به هغه په نورو وړاندې کړی و.

بیا ولید بن ولید خپل ورور خالد رضي الله عنهما ته په دې اړه ولیکل چې بیا همدا د هغه مدینې منورې ته د اسلام راوړلو لپاره د هجرت سبب وګرځېد.

دهجرت اتم کال د صفر میاشت لـومړی نیټـه وه چې خالد ﷺ هجرت وکړ، هغـه ﷺ وایـي: کلـه چې زه په پیغمبر ﷺ باندې ورغلم، ما په هغه سلام واچوه، هغه په ورین تندي ځواب راکړ، نو ما اسلام راوړ، دحق گواهي مې وویله، بیا هغه وفرمایل: (قـد کنت أری لـک عقـلاً رجـوتُ ألا یسـلمك إلا الی خیر). ما په تا کې داسې عقل لېده، زما امیـد و چې تا به یواځې خیر ته تسلیم کړي. ما ورتـه وویـل: مـا ته د هغو گناهونو ښښنه وغـواړه کـوم چې مـا د اللـه تعالی په لاره کې خنډونه اچولي، نو هغه وفرمایـل: اسلام مخکیني هرڅه محوه کوي، مـا ورتـه وویـل: اې د الله رسوله، په هغو به هم (ښښنه) وي؟ هغه ﷺ وویل: اللهم اغفر لخالد بن الولید کل ما أوضع فیـه من صد عن سبیلك... فو الله ما کان رسول اللـه ﷺ یـوم أسـلمتُ یعـدل بي أحـداً مـن أصـحابه فـیما یحزبه). یا الله ته خالـد تـه د هـر هغـه خنډ معافي وکړه چې ستا په لاره یې اچولي... نـو قسـم پـه اللـه چې کله ما اسلام راوړ، هغه څـه چې هغـه ﷺ یـې ځوروه او ضرر یې ورته رساوه، هغې ته په (وړاندې کولو کې یې) زما او نورو صحابه و ترمنځ تـوپیر نـه کاوه. کنز العمال (۲۳/ ۷۳، طبقات ابن سعد ۴-۵۲)

پېغمبر صلی الله علیه وسلم د خالد لـه اسـلام راوړلـو وروسـته هغـه تـه دجگـړې قومنـده ورکـړه، څنگه چې د خالد په اړه ویل کیږي، دغسې عمـرو بن العاص رضي الله عنه سره هم ښـه تعامـل وشـو، کله چې هغـوی دواړه مـدینې منورې تـه د اسـلام راوړلو لپاره راغلـل، پېغمبـر صـلی اللـه علیـه وسـلم ورته وفرمایل: ألقتْ إلیکم مکة أفلاذ کبدها. تاسـې ته مکې دخپل جگر ټوټې واچـولې، یعنـې مکـه مکرمه ستاسې پسې جگرخونې شوه.

نو همغه و چې خالد ﷺ ته یې د ډېرو مشرانو صحابه و په شتون کې چې په اسلام کـې تـرې هـم دمخه و، د جگړې رهبري ورکـړه، څکـه چـې هغـه ددې وړ و.

دغه راز عثمان ﷺ شتمن و، مسلمانانو ته یـې له ثروت او شتمنۍ څخه گټـه ورسـوله، هغـه ﷺ د خرما دصفا کولـو لپـاره پـه شـل زره روپـو دخرمـاو خوړولو او وچولو منډیي وپېرله، هـم یـې د مـدینې منورې مشهوره څاه (بئر رومة) وپیرله. دغه راز یـې مدینې منورې څخـه غـزوه تبـوک تـه روان لښـکر، کوم چې دپېغمبر صلی الله علیـه وسـلم پـه قیـادت کې و او په شام کې د رومـي سـترو لښـکر سره یـې جگړه کېدونکې وه، بشپړ تجهیز وکـړ، مـوږ نـه دي اورېـدلي چـې پېغمـبر صـلی اللـه علیـه وسـلم دې عثمان ﷺ چېرته پهلوانانو ته په غېږ وروسـتلو لپـاره مخکې کړی وي، بلکې د هر صحابي خپل مقام او رتبه یې پېژندله، مناسب تعامل یې ورسره درلود.

حسان بن ثابت ﷺ بلیغ شاعر و، مسلمانانو ته د هغه له دغه وړتیا څخه گټه ورسـېده، خـو پېغمـبر ﷺ هغه د جگـړې پـه وخـت کـې لـه ښـځو سره د هغـوی سـاتنې لپـاره پرېښـود، څکـه چـې هغـه د جگړې نه و.

د ډېرو صحابه و د زړورتیـا نـوم لگېـده، مگـر هغوی په لښکر کې یواځې د سپاهي په توگه جهاد

کاوه، هغوی ته د مشرۍ او رهبرۍ کوم منصب ونه سپارل شو، ځکه دوی غوره سپاهیان و، البته ځانګړي پیاوړي رهبران نه و.



صحابه و منځ کې چې څوک په لیک لوست ښه پوهیدل، دوی ته د وحې لیکلو وظیفه له غاړې وه، هم ګڼو امراو او پاچایانو ته محررین و.

څوک چې پکې اداریان، دعوتګر، عشر ـ او زکات ټولوونکي، قاضیان و، پیغمبر ﷺ هر یو په مناسبه وړتیا مامورین وګرځول.

**دمنصب غوښتونکو سره تعامل**

چا چې په خپله د مسئولیت او منصب غوښتنه کړې وه، هغوی ته یې نه یواځې په نرمه ځواب کړل، بلکې لامل یې هم ورته په ګوته کړ.

ابوذر غفاري رضي الله عنه یو ورځ وویل: اې دالله رسوله! ته موږ نه کاروې؟ نو نبي ﷺ په خپلو لاسونو د ابو ذر اوږې وټپولې، بیا یې وویل: «يَا أَبَا ذَرٍّ، إِنَّكَ ضَعِيفٌ، وَإِنَّهَا أَمَانَةُ، وَإِنَّهَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ خِزْيٌ وَنَدَامَةٌ، إِلَّا مَنْ أَخَذَهَا بِحَقِّهَا، وَأَدَّى الَّذِي عَلَيْهِ فِيهَا» صحیح مسلم (۳/ ١٤٥٧) اې ابا ذره، ته کم ځواکه یې او دا یو امانت ده او دا به د قیامت په ورځ ذلت او پښیمانتیا وي، مګر (هغه چا ته به ذلت نه وي) چې په صداقت او په رښتینولۍ یې ونیوله او هغسې یې اداء کړه چې څنګه پرې لازمه وه.

موسی اشعري رضي الله عنه څخه روایت دی، فرمايي: زه او زما تره ځامن پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته ورغلو، هلته یوسړي وویل: اې د الله رسوله! په هغو واکونو او بستونو کې چې تاته الله تعالی درکړي، موږ امیران کړه، بل صحابي هم دې ته ورته خبره وکړه، نو پیغمبر ﷺ وفرمایل: (( إِنَّا وَاللهِ لاَ نُوَلِّي هَذَا العَمَلَ أَحَداً سَأَلَهُ ، أَوْ أَحَداً حَرَصَ عَلَيْهِ )) متفقٌ عَلَيْهِ. موږ قسم په الله هغه چا ته مسئولیت نه ورکوو چې خپله یې غوښتنه کوي یا هغه څوک چې شوق یې لري.

د پیغمبر ﷺ دغه حکیم اسلوب چې هغه د صحابه و سره ښه تعامل درلود، دهریوه صحابي لپاره یې خپل مقام پېژنده، او زړه کې یې ځای ورکړی و، ددې لامل شو چې هر صحابي هغه ته درناوی درلود او دهغه خبره یې نه غورځوله او دهغه په تګلاره او کړنلاره ترپایه ثابت قدمه و.

دغه راز د بدو خصلیتونو پرځای یې د هغوی ښېګڼو او مثبتو ته ترجیح ورکوله، له همدې کبله له هره لوري بدیو ته د پای ټکی کیښودل شو ګویا یوه داسې ټولنه یې عیاره کړه چې په اسلام رسولو کې بادرکه، بامسئولیته وه او د هر ډول سختیو، کړاوونو برداشت او تحمل یې درلود، چې په نتیجه کې یې همدغو ملنګانو وکولای شول چې د قیصر ـ او کسرى ماڼۍ ونړوي او له ختیځه تر لویدیځه د اسلام مبارک دین ورسوي.




# لویدیځ کې بیا د توهینونو لړۍ او د مسلمانو حاکمانو دردوونکې چوپتیا

حسن زوی

د اګست په ۲۸ مې نېټې د سویډن په مالمو ښار کې ځو کینې اړخو اسلام دښمنو شریرو بدبختانو دقرآنکریم بې حرمتي وکړه او ددې پېښې نه لږ وروسته بیا د ناروې په پلازمېنې اوسلو کې هم یوې مېرمنې دقرآنکریم د بې حرمتۍ ناپاکه جسارت وکړ چې پر ضد یې په ناروې کې سختې مظاهرې وشوې او په اسلامي نړۍ کې هم ددې دواړو پېښو پر ضد دعامو مسلمانانو له لورې سخت عکس العمل رامخې ته شو خو داچې پر اسلامي نړۍ دمسلطو حاکمانو او اسلامي کانفرانس له لورې څه عکس العمل رامخې ته نه شو نو دچارلي ایبډو په نوم له فرانسې نه خپرېدونکې دزمانې بدنامې جریدې هم یوځل بیا دستر پیغمبر حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم لوی شان ته دسپکاوي او د ټولې نړۍ د مسلمانانو د زړونو دردولو په موخه کارتونونه خپاره کړل.

دا هماغه جریده ده چې له دې وړاندې یې په ۲۰۱۵م کال کې هم خپل خباثت څرګند کړی او کارتونونه خپاره کړي وو چې په ټولې نړۍ کې یې دمسلمانانو سخته غصه راپارولې وه او دجریدې د بدبخت مدیراومشر کارتونیستې په شمول دجرېدې کار کونکي دخپل دې ناوړه عمل په سزا رسېدلي وو.

د ۲۰۱۵م کال د جنورۍ په ۷ مې نېټې دوه ورونو سعد کواچي اوشریف کواچي د جریدې په دفتر برید وکړ او د جریدې دبد بخت مدیر ۴ کارټونسټانو او ۲ لیکوالانو په په شمول یې ۱۲ تنان ووژل چې پرې د ټولې نړۍ دمسلمانانو زړونه یخ شول.

د اسلام ستر پیغمبر ته د سپکاوي په موخه ددې کارتونونو دخپرېدا له امله دنړۍ کابو ۲ ملیارده مسلمانانو ته په رواني لحاظ سخت تکلیف رسېدلی دی؛ زړونه یې سخت دردېدلي دي خو

لویدیځوال دا د بیان آزادي بولي او د لویدیځ دولتونه د داسې شریرو او وران کارو وګړو او رسنیو دکړنو نه دفاع کوي؛ قانوني مصئونیت او امتیازات ورکوي او له همدې لارې یې داسې کړنو ته لا زیات هڅوي.

په لویدیځ کې هیچا ددې ناوړه عمل سره خپل مخالفت نه و څرګند کړی، پوپ فرانسس یواځنی هغه تن و چې ددې کارتونونو دخپرولو غندنه یې کړې وه او ویلي یې وو چې موږ تل دبیان د آزادۍ نه دفاع کړېده خو دبیان دآزادۍ هم څه حدود وي؛ دکوم مذهب سپکاوی هیڅ ښه کار ندی.

پکار دا وه چې دنړۍ ټولو مسیحیانو دپوپ ددې وینا هر کلی او دهرمذهب مقدساتو ته دسپکاوي دمخنیوي لپاره یې دقوانینو جوړولو غوښتنه کړې وای.

خو متأسفانه چې لویدیځ دپوپ وینا استقبال نکړه بلکې برعکس ورسره په عمل کې ټولو خپل مخالفت ښکاره کړ او دبرتانې ولسمشر ډیوید کیمرون وویل: د پوپ څرګندونو سره متفق ندی ځکه چې رسنۍ د هر ډول موادو په خپرولو کې ازادې دي، که څه هم دسپکاوي اړخ پکې وي.

دا دلویدیځ تش په نامه هغه روڼ اندې او سیکولر ټولنه ده چې د مسلمانانو زړونو ته د درد رسولو یوه موکه هم له لاسه نه ورکوي؛ داسلام دشعایرو او اسلامي مقدساتو ته سپکاوي ته پکې خلک هڅول کیږي.

دا ټولنه تش په نامه روڼ اندې او سیکولر ده؛ په حقیقت کې سخته متعصبه او متشدده ټولنه ده؛ داسلام او مسلمانانو سره دښمني یې له حدودو وتلې ده؛ د دوئ قلمونه او ژبې چې د اسلام، مسلمانانو او اسلامي شعایرو پر ضد کارول کیږي پکې دهیڅ اصولو او مقرراتو ځانونه پابند نه ګڼي.

د چارلي ایبدو اداري اعتراف کړیدی چې په ۲۰۱۵م کال کې ددې جریدې پر دفتر دحملې نه پس ترې په مسلسل ډول دکارتونونو دبیا خپرولو غوښتنه شویده خو مو ترې انکار کاوه؛ زموږ انکار له دې امله نه و چې کومه قانوني ستونزه مو لرله؛ قانون موږ ته د هرڅه خپرولو اجازه راکوي؛ بلکې له دې امله مو نه خپرول چې چندان اړتیا مو نه محسوسوله خو اوس چې د چارلي هیبدو په دفتر دحملـه کوونکو سره دمرسته کونکو پر ضد دوسیه سپړل کیږي نو ترې ورانـدې ددې کارتونونو بیاخپرول (نعوذ بالله من ذلک) اړین و.

محترمو لوستوالو وګورئ! ددې نه دلویدیځ اسلام دښمني ډېره ښه معلومېدای شي چې دجریدې خوښه وي او که نه د عامو لویدیځوالو غوښتنه ده چې بیادې داسلام دستر پیغمبر توهین وشي او بیا دې د ۲ ملیارده مسلمانانو زړونه زخمي کړای شي.

د جریدې اداره وایي: قانون موږ نه منع کوي یانې دلویدیځ په قانون کې دچا دمذهب؛ دمذهبي شعایرو او مذهبي اشخاصو سپکاوی هیڅ بد کار ندی چې پرې چاته سزا ورکړل شي.

داځومره دتعجب وړ خبره ده چې په همدې لویدیځ کې که چابل چاته نیغ نیغ وکتل او پرې شکایت وشو چې دده له کتلو نه ماته رواني تکلیف ورسېدلو نو دغه

کتونکی مجرم ګڼل کېږي او قانو ورته سزا ورکوي خو که بل لورته ملیاردونو انسانانو ته تکلیف رسېږي نو دا عمل جرم ندی؛ بس همدا دلویدیځ بشر دوستي ده او همدا یې انساني مساوات دی.

دامام مالک رحمه الله تعالی نه چا پوښتنه وکړه چې که د رسول الله صلی الله علیه وسلم شان ته څوک سپکاوی وکړي نو مسلمان باید څه وکړي؟ هغه وفرمایل باید انتقام یې واخلي.

سائل بیا سوال وکړ چې که مسلمانان د انتقام اخستلو توان ونلري؟ امام وفرمایل بیا مسلمان ملت ته مرګ پکار دی. (یانې سپکاوی کونکی چې ژوندی وي امت دژوند حق نه لري)

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي :
لا یؤمن احدکم حتی اکون احب الیه من والده و ولده والناس اجمعین ژباړه په تاسې څوک (کامل) مومن کېدای نه شي ترڅو چې څه هغه ته د پلار، بچي او ټولو خلکو نه زیات محبوب نه شم. مسلمان که هرڅومره په عملي لحاظ ضعیف شي بیا هم د الله تعالی نه پس د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره دده مینه له بل هرچا زیاته وي نو مسلمان که ډېر زیات ګناهګار وي خو د رسول الله صلی الله علیه وسلم شان اقدس ته سپکاوی نه شي زغملی او که څوک سپکاوی وکړي نو هر مسلمان ترې انتقام اخستل او پدې لار کې سرجارول دخپل ځان لپاره لوی سعادت ګڼي؛ په لویدیځ کې چې کوم بدبخت سپکاوی وکړي نو ټول عام مسلمانان خپل غم، درد او دخپل توان سره سم عکس العمل ښکاره کوي

خو متأسفانه چې داسلامي نړۍ حاکمه طبقه بیا پداسې وختونو کې له ځانونو ګونګ شیطانان جوړ کړي وي.

قرآنکریم، داسلام ستر پیغمبر او داسلام شعایرو ته دسپکاوي د پېښو پر مهال پر اسلامي نړۍ دمسلطو حاکمانو چوپتیا ډېره دردونکي وي؛ بس یو حاکم نیم کمزوری انفرادي عکس العمل ښکاره کړي او همدا دخپل مسئولیت ادا کېدل وګڼي.

که د اسلامي نړۍ حاکمانو په اتفاق او پوره قوت دسپکاوي دلړۍ دمخنیوي خبره دملګرو ملتونو اداري کې را پورته کړی او په پوره اهتمام یې تعقیب کړی وای ډېر دمخه به ددې لپاره قانون سازي شوی او دتل لپاره به دداسې پېښو مخه نیول شوی وای.

اوس ددې وخت دی چې ددې هدف لپاره اسلامي کانفرانس عاجله غونډه جوړه کړي او پکې دټولې اسلامي نړۍ لومړي وزیران او ولسمشران ګډون وکړي او په ډېر قوت سره له ټولې نړۍ نه دهر مذهب مقدساتو ته دسپکاوي دمخنیوي لپاره دقانون سازۍ غوښتنه او دفرانسې نه په ځانګړي ډول په چارلي ایبډو دبندیز غوښتنه وکړي؛ فرانسه یا بل هېواد که ددې غوښتنې سره مخالفت ښکاره کوي نو ټول دې په اتفاق ورسره د دیپلوماتیکو اړیکو دپرې کولو پرېکړه وکړي ترڅو په عمل کې لویدیځ ته دا ښکاره شي چې درسول الله صلی الله علیه وسلم ذات اقدس مسلمانانو ته دومره محبوب دی چې له هرڅه پرې تېر دي.



# د اُحد په غزا کې،
## د عاشقانو سيالي

ژباړن:عبدالرحيم راشد

د احد په غزا کې د عاشقانو او مينه کوونکو لپاره لوی امتحان و، امام مسلم رحمه الله په خپل کتاب صحيح مسلم کې د انس بن مالک رحمه الله څخه روايت ذکر کړی دی، وايي:

کله چې د احد په غزا کې مشرکان غالبه شوه، د مسلمانانو ځينو ډلو د تېښتې لاره خپله کړه او ځيني ډلې بيا ووژل شوې، بيا نو نبي کريم صلي الله عليه وسلم يواځې پاتي شو، هيڅوک ورسره نه و، مګر اووه(۷) تنه انصار او يو(۱) تن مهاجر صحابي ورسره موجود و.

د مشرکينو يوې ډلې د نبي صلي الله عليه وسلم لوري ته حرکت وکړ او يو له بل څخه يې وړاندي والی کاوه، ترڅو رسول الله صلي الله عليه وسلم شهيد کړي.

انس رضي الله عنه فرمايي: کله چې رسول الله صلي الله عليه وسلم مشرکين وليدل چې د ده لوري ته را روان دي، نو د هغه اتو(۸) تنو صحابه کرامو لوري ته يې وکتل او ورته يې وفرمايل: څوک چې له ما څخه دغه مشرکين منع کړي، نو هغه به په جنت کې زما ملګری وي، کله چې هغوی د پيغمبر صلي الله عليه وسلم دا زړې واورېدې له انصارو څخه يو تن را وړاندي شو ، مشرکين يې رسول الله صلي الله عليه وسلم ته نه پرېښودل او تر هغه پورې وجنګېدی، چې شهيد شو.

مشرکان د بل ځل لپاره بيا رسول الله صلي الله عليه وسلم ته را وړاندي شول، رسول الله صلي الله عليه وسلم خپلو ملګرو ته وکتل او ويې ويل: څوک چې دغه مشرکين زما څخه منع کړي، هغه په جنت کې زما ملګری دی، بيا بل صحابي ور وړاندي شو او له مشرکينو سره وجنګېدی، ترڅو چې شهيد کړل شو او هرځلي چې مشرکانو د رسول الله صلي الله عليه وسلم لوري ته د حملې هوډ کاوه، رسول الله صلي الله عليه وسلم به خپلو ملګرو ته وکتل او وبه يې ويل: څوک چې هغه (مشرکان) له ما څخه منع کړي د هغه بدله جنت دی، ټول اووه(۷) سره صحابه په نوبت سره جنګېدل، تر هغو چې د رسول الله صلي الله عليه وسلم په وړاندي شهيدان شول.

هغوی دا کار جنت تـه د داخلېدو لپـاره او د افسـوس او پښـېمانۍ د ورځـې د شر او بـدۍ لـه وېرې څخه ترسره کړ.

کله چې الله جل جلا له د هغوی سرښندنه او فداکاري ولیدل، نو هغوی یې د قیامت د ورځي له شر او بـدۍ څخـه وسـاتل او هغـوی تـه یـې خندېدونکې څېره او خوشحاله زړه ور په برخه کړ.

الله تعالی فرمايي: " وَجَزَاهُمْ بِمَا صَبَرُوا جَنَّةً وَحَرِيرًا (١٢) مُتَّكِئِينَ فِيهَا عَلَى الْأَرَائِكِ لَا يَرَوْنَ فِيهَا شَمْسًا وَلَا زَمْهَرِيرًا (١٣) وَدَانِيَةً عَلَيْهِمْ ظِلَالُهَا وَذُلِّلَتْ قُطُوفُهَا تَذْلِيلًا (١٤) وَيُطَافُ عَلَيْهِمْ بِآنِيَةٍ مِنْ فِضَّةٍ وَأَكْوَابٍ كَانَتْ قَوَارِيرًا (١٥) قَوَارِيرَ مِنْ فِضَّةٍ قَدَّرُوهَا تَقْدِيرًا (١٦) وَيُسْقَوْنَ فِيهَا كَأْسًا كَانَ مِزَاجُهَا زَنْجَبِيلًا (١٧) عَيْنًا فِيهَا تُسَمَّى سَلْسَبِيلًا (١٨) وَيَطُوفُ عَلَيْهِمْ وِلْدَانٌ مُخَلَّدُونَ إِذَا رَأَيْتَهُمْ حَسِبْتَهُمْ لُؤْلُؤًا مَنْثُورًا (١٩) وَإِذَا رَأَيْتَ ثَمَّ رَأَيْتَ نَعِيمًا وَمُلْكًا كَبِيرًا (٢٠) عَالِيَهُمْ ثِيَابُ سُنْدُسٍ خُضْرٌ وَإِسْتَبْرَقٌ وَحُلُّوا أَسَاوِرَ مِنْ فِضَّةٍ وَسَقَاهُمْ رَبُّهُمْ شَرَابًا طَهُورًا (٢١) إِنَّ هَذَا كَانَ لَكُمْ جَزَاءً وَكَانَ سَعْيُكُمْ مَشْكُورًا (٢٢) " [سـورت انسـان ١٢ــ ٢٢]

ژباړه: نو الله تعالی به دوی د هغې ورځې لـه شر څخه وژغـوري او دوی تـه بـه تـرو تـازګي او خوشحالي ورکړي او د هغو د صبر په بدل کـې بـه جنت او ورېښمیني جامې ورکړي. هلته بـه هغـوي پر لوړو تختونو باندي تکیه وهلي ناسـت وي، نـه به یې د لمر ګرمي په تکلیف کړي او نه ساړه.

د جنت څانګې به پرې را ټیټې سوې سـیوری کوونکې وي او د هغه مېوې به هر وخـت د هغـوی په وس کې وي (چې څنګه غواړئ، ویې شـکوي)؛ د هغو مخې ته به د سپینو زرو لوښي او د ښیښـو ګیلاسونه ګرځول کیږي؛ ښیښـې، هـم هغـه چـې د سـپینو زرو پـه ډول بـه وي او هغـه بـه (د جنـت خدمتګارانو) په سمه اندازه برابر ډك کړي وي.

په هغو به هلته د شرابو داسې جامونه وڅښل شي چې زنجبیل (شونډ) به پکې ګډ شوي وي؛

دا به د جنت یوه چینه وي چې سلسبیل ورتـه ویـل کیـږي. او د هغـو د خـدمت لپـاره بـه داسې هلکان ګرځي، راګرځي چې تل به په هلکتوب کـې وي، که ته هغوی ووینې، نو ګومان به وکـړې چـې خورې ورې ملغلرې دي. هلته چې ته هري خـوا تـه نظر واچوې، سراسر نعمتونه او د یو لـوی سـلطنت رنګ، رونق به دې تر سترګو شي. پـر هغـو بانـدې به د نریو ورېښمو شنه جامه پرتـه او د اطلـس او د پرېړو ورېښـمو جـامې بـه یـې وي، هغـو تـه بـه د سـپینو زرو بنګـړي واچـول شي او د هغـو رب بـه ورباندې ډېر زیات پاك شراب وڅښـي. دا سـتاسې مکافات دي او ستاسې هاند او هڅه د قدر وړ ده.

نـو دغـو اوو(٧) تنـو صـحابه کرامـو خپـل روحونه لوی څښتن تعالی ته ډالـۍ کـړه، نـو اوس هغوی د جنت پر تختونو سر ښېره ناست او پاچاهـان دي، هر څوک چې له اللـه عزوجـل سره ربښـتینولې وکړي، نو الله عزوجـل د هغـه د ربښـتینولۍ بدلـه پوره ورکوي.

هغوی پاچاهان دي پر تختونو ناسـت دي او د هغوی جامه د زرغون ، نرم ټوکر او ورېښمو څخـه

جوړي دي، همدارنګه يې(خوندور) خواږه دي او د هغوی د بدن د خولو بوی د هغه خالص مشک په ډول دی چي بل شی نه وي ورسره ګډ شوی او د هغوی اشتها د خوراک په خوړولو سره تل جاري وي.

هلته د جنتي انسان څخه ګندګي، بولي، ګرنګ او د خولې لاړي نه وي او هغوی خپل پالونکی د خپل سر دپاسه داسي ويني لکه څنګه چي انسان سپوږمۍ د خپل سر دپاسه ويني.

ايا تا د ايمان د اواز کوونکي ږغ اورېدلی؟ چي د تل پاته جنت څخه خبر ورکوي:

ای جنتيانو! ستاسو لپاره ستا د څښتن له لوري وعده شوې ده او الله تعالی خپله وعده حتمي پوره کوي.

جنتيان به ووايي: ايا زموږ څېري دي روښانه او ځلېدونکي نه دي ګرځولي؟ همدارنګه زموږ نېک اعمال دي د ترازو په تله کې درانه نه کړل او همدرانګه دې موږ جنت ته داخل نه کړو او دوزخ څخه دې ونه ژغورولو؟

الله تعالی به ورته وفرمايي:

ستا زما سره يوه وعده ستا، چې په خپل رحمت او مهربانۍ سره اوس هغه تاسو ته در کوم، نو په دغه وخت کي الله سبحانه وتعالی خپل ذات د حجاب (پردو) له ليري کولو وروسته را ښکاره کړي. (دغه روايت امام مسلم رحمه الله په خپل کتاب صحيح مسلم کي ذکر کړی دی).

په الله تعالی سوګند که په جنت کي د الله جل جلا له ديدار نه وای، جنت هغوی ته خوښ نه وو، سوګند په الله تعالی چي په دې دنيا کې خوندور او غوره څيز د بنده شوق د الله عزوجل ديدار ته بل غوره شی نسته.

د جنت شوقيان د خپل څښتن سره پټ رازونه او خبري لري، هغوی زموږ په ډول انسانان دي، کله چي د خطاء او د ګناه مرتکب کيږي( او هر د آدم زوی يعني انسان خطاء کوونکی دی) مګر دوی توبې او د الله تعالی څخه د بخښني غوښتلو باندي تلوار کوي او د عزيز او جبار څښتن وېره پر هغوی غالبه سي.

هغوی نېکان دي کله چي ګناه ترې صادره سي، بغلونه د خوب له بسترو څخه جلا کړي او کله چي د الله تعالی نوم ياد سي د هغوی زړونه ووېرېږي.

خپل قدمونه (پښې ) يې د محراب سره محکمه او ثابتي کړي دي او خپل حاجتونه يې د الله تعالی دربار ته يې وړاندي کړي وي، د بخښونکي او توبه قبلونکي ذات د بخښني لپاره هغوی په خپلو محرابونو کي نېکمرغه دي، تر هغو کسانو چي د لهو او لعب (ساتېري) په مېدانونو کي د نېکمرغۍ احساس کوي.

ای مسلمانه وروره او خوري!

که چيري ستا سترګي هغوی چي کوم موقف (درجې) کي دي ووينې، بيا يې هم خپل لاسونه يې د هغه لوی څښتن عزوجل لوري ته اوچت نيولي

وي، چي په هغوی رحم وکړي. تعجب به وکړې، چي د دومره رتبې سره دومره عاجزي او زاری کول!

او د هغه لوی ځښتن په حضور کي به د عاجزۍ کوونکي او خوار کس څخه پرته بل څوک ونه وینې.

او بل تاسو وینئ، چي هغوی په خپلو گناهونو اوښکي تویوي او زمزمه (فریاد، ژړا) کوي او وینئ، چي په محراب کي یې اوښکي جاري دي په داسي حال کي چي بیا په جنت کي خوشحاله او خوښ دي په نعمتونو کي آواز کوونکي دي:

ای لویه ځښتنه! ای لویه ځښتنه! موږ ستا بنده گان یو او پرته له تا څخه بل څیز نه لټوو او ته په هغه پوه یې او موږ حاضر سوي یو، چي له تا څخه غوښتنه وکړو، د کوم څیز چي ته یې اهل یې ځکه ته یې چي بخشش او انعام ورکوې، ته د لوی ذات خاوند یې او له موږ څخه به هیڅوک له تا بې پروا نه سي کېدلای او موږ لره له تا څخه صبر نسته، چي په هغه سره خپل ځان ته ډاډگېرنه ورکړو او پرته له تا څخه چي څوک پر موږ باندي غوسه وکړي، په هغه صورت کي چي ته د خپل بنده څخه خوشحاله واوسې هیڅ باک او پروا نسته .

نو الله تعالی لره پاکي ده، چي دغه موقف او درجې د بېلگي په توگه: د حشر د ورځي موقف، هغه ورځ چي جبار الله عزوجل په هغه ورځ کي نږدې کېږي او په خپلو ملائکو فخر کوي او هغه ځښتن د کرم او احسان کوونکی ذات دی.

الله تعالی وایي: زما بنده زما حضور ته د محبت او میني له مخي حاضر سوی دی او زه پر هغوی احسان او ښه کرم کوونکی یم، نو تاسي شاهدان گرځوم، چي د دوی گناهونه مي ور وبخښل او د کوم څیز چي دوی یې امید او هیله درلوده هغوی ته مي ورکړه.

د خپلو نفسونو سره سخته محاسبه وکړئ او هغوی(نفسونه) د زجر او ترټلو په ژبو نیک کړئ او د ابلیس سره د جگړې لپاره راپورته سئ.

هغوی پوه سوي وه، چي زموږ لوی دښمن ابلیس دی، هغه دښمن چي خپل ځان یې تر آدم علیه السلام غوره وبلی، چي آدم علیه السلام ته سجده وکړي، له هغه وروسته یې د آدم علیه السلام سره چل او فریب وکړ او هغه یې له جنت څخه را وایستی. او سوگند یې یاد کړ، چي د ډېرو لړو (انسانانو) پرته به نور د هلاکت کندي ته ورټېلوهم.

ابلیس به هیڅکله په گناه کولو سره له هغوی څخه خوشحاله نه سي، خو هغوی عجیبه خلک دي، کله چي شپې خپله توره پرده وغوړوي، نو هغوی ټوله شپه رڼه تېره کړي او د خپلو گناهونو صفحې مطالعه کړي، عاجزي غوره کړي او د خپل محبوب او مهربان ځښتن دروازه وټکوي او هغه ته عذر وړاندي کړي.

اخځلیک: " د جنت شوقیان " مخ: ۷۲.

# د مورچل دارالافتاء

## آیا دیو پاچا تصویر ته سر ټیټول شرعا روا دي؟

الاستفتاء: محترم مفتی صاحب ! مايوخه خلگ وليدل چې دازادی په ورځ يې يوتصويرته داكرام په ډول سر ټيټول ايا داعمل شرعا ديوه داسي چال لپاره روا ده چې ځان مسلمان گڼي ؟حميد

الجواب حامدا ومصليا وبعد:كه چېرې يې دغه سرټيټول درکوع په اندازه وي اوپه دي عمل باندي مقصود دهغه بت يا تصوير تعظيم وي نوبياخو دتعظيم لغيرالله لامله چې دعبادت په ډول وشي دا دشرك عمل گڼل کيږي، زموږ ځيني کتابونه مطلقا انحناء [سرټيټول ] دمجوسوعمل گڼي.

في المحيط البرهاني ٣٩٦\٥ وإن سجد بنية العادة للسلطان أو لم تحضره النية، فقد كفر

....الانحناء للسلطان أو لغيره، وإنه مكروه؛ لأنه تشبه بفعل المجوس.

وفي ردالمحتار :وفي الظهيرية يكفر بالسجدة مطلقا وفي الزاهدي الإيماء في السلام إلى قريب الركوع كالسجود وفي المحيط أنه يكره الانحناء للسلطان وغيره اه . باب الاستبرا ٣٨٣\٦

وفي الفتاوى الهندية : الانحناء للسلطان أو لغيره مكروه لأنه يشبه فعل المجوس كذا في جواهر الأخلاطي.

وقال البجيرمي في حاشيته : الانحناء لمخلوق كما يفعل عند ملاقاة العظماء حرام عند الإطلاق أو قصد تعظيمهم لا كتعظيم الله، وكفر إن قصد تعظيمهم كتعظيم الله تعالى.

وفي الموسوعة الفقهية : أما إذا انحنى ووصل انحناؤه إلى حد الركوع فقد ذهب بعض العلماء إلى أنه إن لم يقصد تعظيم ذلك الغير كتعظيم الله لم يكن كفرا ولا حراما , ولكن يكره أشد الكراهة لأن صورته تقع في العادة للمخلوق كثيرا . وذهب بعضهم إلى حرمة ذلك ولو لم يكن لتعظيم ذلك المخلوق , لأن صورة هيئة الركوع لم تعهد إلا لعبادة الله سبحانه. اهـ.

وجاء في صفحة اسلام سوال وجوا ب برقم ٨ ١٠٤٢ولا شك ان الانحناء عبادة لله تعالى كما في الركوع فإذا فُعل ذلك من غير مصافحة أو تقبيل كان ذلك تعظيما لذلك الشخص فيكون شركا.

وقد أفتت اللجنة الدائمة في السعودية في هذه المسألة بالتحريم ، وذلك في الفتوى رقم:١٨٢٢١

كتبه : مفتي ابوسعيد عفى عنه

## مرتث شهيد چاته ويل کيږي ؟

الاستفتاء : محترم مفتي صاحب كه دمرتث شهيدپه اړه معلومات راكړئ مهرباني به مووي يعني داچې مرتث کوم شهيد ته ويل کيږي ، اوپه كومو شيانو سره مرتث گرزي ؟

الجواب حامدا ومصليا وبعد :مرتث هغه شهيد ته ويل کيږي چې دجنگ په ډگر کې زخمي شي

اوسمدستي شهيدنه شي ، مرتث شهيد له عامو شهيدانو څخه داتوپير لري چې مرتث شهيد ته غسل ورکول کيږي ،اوعامو شهيدانو ته غسل نه ورکول کيږي.

اودشهيد ارتثاث په لاندي ځيزونو ثابتيږي

١ =چې له زخمي کيدو وروسته په هوش اوپوهيدو سره خوراک يا څښاک وکړي ،

٢ =په هوش اوپوهيدو سره ويده شي اوخوب وکړي.

٣=چې تداوي يې کيږي اودی په هوش اوحس کي وي ياپه ځان تداوی کوي اوپوهيږي ،

٤ =چې دجنګ له ډګر څخه ددارودرمل لپاره انتقال شي ،په ځان پوهيږي اوبيداره وي ،

البته که يې دجنګ له صحني څخه دليري کولو له امله ؤ ياله دي امله چې کافران يې يونه شي نوبياله انتقال وروسته که شهيدهم شي مرتث نه ګڼل کيږی يعني غسل نه ورکول کيږي.

٥ = د يوه لمانځه وخت ورباندي تيرشي اودی په هوش کې وي اوپوهيږي.

٦ =چې بيع اوشراء يعنی اخستل اوخرڅيدل وکړي .

٧ = چې ملګرو ته وصيت ياتوصيې وکړي ،يادډنيا دکارونوښوونه ورته وکړي .ياداسې نوري خبري ،البته که داخبري يې داخرة په امورکې وي ، ياددنياپه امورکې وي خولږ وي يعني يودوه کلمي وي نوبيا مرتث نه ګرزي .

٨ =چې په خپله دجنګ له ميدان څخه ووزي.

٩ =داټول شرطونه هغه مهال دي چې جنګ خلاص شوی وي اودوړاندينيو امورو دسرته رسولو وروسته دغه تن په شهادت ورسيږي ، اوکه دجنګ په مهال کي دغه امور ورپيښ شي نوبيا هم مرتث نه ګرزی.

في الدرالمختار بردالمحتار باب الشهيد : ٤١٨١٢ وطبع اخرى ٦٧٢١١ ( أو جرح وارتث ) وذلك ( بأن أكل أو شرب أو نام أو تداوى ) ولو قليلا ( أو أوى خيمة أو مضى عليه وقت صلاة وهو يعقل ) ويقدر على أدائها ( أو نقل من معركة ) وهو يعقل ، سواء وصل حيا أو مات على الأيدي وكذا لو قام من مكانه إلى مكان آخر بدائع ( لا لخوف وطء الخيل أو أوصى بأمور الدنيا ، وإن بأمور الآخرة لا ) يصير مرتثا ( عند محمد وهو الأصح ) جوهرة لأنه من أحكام الأموات ( أو باع أو اشترى أو تكلم بكلام كثير ) وإلا فلا ، وهذا كله إذا كان (بعد انقضاء الحرب ولو فيها ) أي في الحرب ( لا) يصير مرتثا بشيء مما ذكر ، وكل ذلك في الشهيد الكامل ، وإلا فالمرتث شهيد الآخرة وكذا الجنب ونحوه ،

وفي ردالمحتار تحته: ( قوله أو تكلم بكلام كثير ) يمكن حمله على كلام ليس بوصية توفيقا بينهما ، لكن ذكر أبو بكر الرازي أنه لو أكثر كلامه في الوصية غسل لأنها إذا طالت أشبهت أمور الدنيا بحر عن غاية البيان

قلت : يمكن حمل ما ذكره الرازي على الوصية بأمور الدنيا بدليل ما مر من وصية سعد ، فإن فيها كلاما طويلا ( قوله وإلا فلا ) أي وإن لم يكن كثيرا ككلمة أو كلمتين فلا يكون مرتثا ( قوله وهذا كله ) أي كون ما ذكر في بيان الارتثاث موجبا للغسل درر.

ومثله في الهندية ١١٦٨

كتبه :مفتي ابوحامدعفى عنه



# ايا طالبان به افغانستان ته

# فاتحين ننوځي؟!

ليکنه: همايون عيسی خېل

ګران افغانستان په تېرو دوو قرنونو کې درې ځله د انګرېزانو او يو ځل د شوروي اتحاد له لوري اشغال شوی!

که څه هم دوی پر افغانانو خپل ټول زور وازموو، په بمباريو کې يې ډول، ډول بمونه وکرول، په ميليونونو ولس يې شهيدکړ، په ميليونو کسان يې ژوبل، بې کوره او هجرت کولو ته يې اړ ايستل...

په زرهاوو کورونه، جوماتونه، بازارونه او مکتبونه يې ويجاړ کړل...

پخوانۍ ټپونه مو لا جوړ نه وو چې غربيانو د ۴۲ هېوادونو په ملتيا يو ځل بيا له وحشت او بربريته ډک يرغل وکړ. افغانان يې وځپل، وټکول، شهيدان يې کړل، بندي خانې يې ترې ډکې کړې، ډول ډول شکنجې يې ورکړې او کورونو پرېښودلو ته يې اړ ايستل....

له انګريزانو څخه رانيولې تر غربيانو پورې، دې ټولو اشغالګرو زمونږ هېواد له معيوبينو څخه ډک کړ، د افغانانو کورونه به له شهيدانو، يتيمانو، کونډو، رنډو،بورو، کاڼو، ړندو، ګوډانو، شلانو او له نورو ډول ډول معيوبينو څخه خالي نه وو او په ټول هېواد کې داسې څوک نه ترسترګو کېږي چې دغم خزان وهلی نه وي...

ښايي نور هېوادوالو ته دا خبره نا اشنا وي چې، په دکان کې دې يوازې د يوې پښې بوټ پلورل کېږي؛ خو په افغانستان کې بيا دا ډول دکانونه عامه خبره ده.

د شوروي اتحاد ماتې وروسته به خلکو کيسې کولې چې، په افغانستان کې داسې دکانونه(پلورنځي) هم شته چې د يوې پښې بوټان او څپلۍ پکې خرڅېږي؛ ځکه چې ځينو افغانانو ښۍ پښې او ځينو چپې پښې په جنګونو کې له لاسه ورکړې دي...

خو د دې ټولو ستونزو، کړاوونو او بدبختيو باوجود، افغانان د خپل دين او وطن دفاع لپاره ټينګ ودرېدل، خپلې سينې يې سپر وګرځولې، په ښه اخلاص او جرأت يې مقاومت وکړ. دا هر څه يې په ځان وګالل، د الله جل جلاله بندګي يې په سر سترګو ومنله؛ خو د شيطان، ستر دجال او د طاغوت غلامي يې ونه منله. خپل استقلال يې

واساته او خپلې شملې يې ټيټې نه کړې. صليب يې رانسکور کړ، اشغال يې د الله جل جلاله په نصرت او په بې سارې قربانۍ مات کړ!

که څه هم افغانان هم ښه پوره وځپل شول؛ خو ډېرى اشغالگر يې د امپراطورانو هديرې ته ورټېل وهل او ډېرى يې له ماتو سرونو، گوډو پښو او ړندو سترگو سره خپلو هېوادو ته د نمونې لپاره ډالۍ کړل...

بالاخره افغانستان د امپراطورانو په هديره ونومول شو او د شجاعت دغه ستر ميډال يې ترلاسه کړ!

په دې وروستيو کې ډېرې داسې ويډيوگانې او انځورونه په سوشل ميډيا کې خپره شوي، چې د ناټو سرتېري پکې تر سترگو کيږي، چا غبرگې سترگې، چا غبرگې پښې او چا غبرگ لاسونه له لاسه ورکړي دي. د چا يوه پښه، يو لاس او يوه سترگه د امپراطورانو په هديره کې د خاورو سره خاورې شوي دي.

چا خپل مغزه له لاسه ورکړل او په رواني تکليف اخته شوى دي.

د ځينو بيا د استشهادي بريدونو، تعرضونو، کمينونو او د ماينونو غبر او ډار په مغزو کې ثبت شوى او په ځان وژنه لاس پورې کړى!

په ډېرو بيا مينډې بورې شوې دي او په قبرونو يې ورته جنگي بوټان، خولۍ او ټوپک نصب کړي دي.

دا څو ورځې کيږي چې، په فيسبوکونو او واټساپونو کې يوه ويډيو څرخيږي. په دې ويډيو کې ليدل کې کيږي، يو امريکايي سرتيري، خپل نيم مخ د دين او وطن ساتونکو شازلمو لخوا د يو ماين په ترڅ کې له لاسه ورکړى دى. ليدل کيږي چې نوموړى پلاستيکي سترگه او ځامه د خپل مخ څخه راجلا کوي. او په څېره يې د غم او پښيمانتيا اثرات ښکاري.

دا ډول ويډيوگانې او انځورونه بايد په موزيم کې کېښودلى شي، او راتلونکو امپراطورانو ته وخت په وخت وروښودل شي. گمان نه کوم چې بيا به يو کفري هېواد د افغانستان نوم په خوله واخلي، دا خو ليرې ده چې، ښکيلاک کولو ته به يې زړه ښه کړي.

که احيانا د ناټو کوم سرتېرى خپل هېواد ته روغ سر او سالم بدن په تېښته بريالي شوى وي او هلته چا پيغور ورکړ(او بايد ورېي کړي...) چې، سره له دومره تجهيزاتو، پرمختللې ټيکنالوجۍ او د ۴۲ پرمختللي هېوادونو په ملتيا مو ولې بېوزله او ناچاره هېواد افغانستان کنټرول نه کړى شو؟!

ولې مو ماته وخوړه؟!

ولې داسې مات گوډ راستانه شوي ياستئ...؟!

دوى بايد په ځواب کې د دغه سرتېرو د ماتو سرونو، ړاندو، کاڼو، گوډانو او نيمچه بدنونو ويډيوگانې او انځورونه ورښکاره کړي. له پيغوره به خلاص شي او شايد(پيغور ورکونکى) يې په ملا وټپوي چې، روغ سر راوتل دې هم توره، مېړانه او ستره لاسته راوړنه ده. آفرين شه او په تا شه!

او ځان سره به وايي:

دا څنگه افغانان دي چې، له روغ انسان څخه يې بل شى جوړ کړى؟!

دا څنګــه افغانــان دي چــې، ســړی روغ سر ورشي او بېرته مات سر راوړي؟!

دا څنګه افغانان دي چې، جګړې ته داسې په خوښۍ او په ترانو ويلو ورځي، لکه مـونږ چـې د فټبال تماشې ته ځو...؟!

تر ډېره وختـه بـه غـربي واکمنـانو او رسـنيو خپل تلفات پټ ساتل او يا به يـې ډېـر کـم ښـودل؛ خو بيا هم د قرباني شـوو سرتېـرو وارثـانو، سـياسي کارپوهانو او نـور کړيـو د افغانسـتان اشـغال سره خپل مخالفت ونښود او پر ضد يې پراخه لاريونونه وکړل. اخـر مجبـور شـول چـې د اسـلامي امـارت سياسي ټيم سره په دوحه کې خپله ماتې امضاء کړي او له افغانستانه خپلې پښې سپکې کړي.

د تاريخ په اوږدو کې کله هـم چـې مسـلمان هېواد د کفارو له لوري يرغمال شوی. د هغه هېواد ځينو بې ضمېره، بې وجدانه، نادان او تش پـه نامـه مسلمانانو، هم په ډېرې سپين سـترګۍ د اشـغالګرو ملتيا وکړه. د پرديو د ټوپک شـپيلۍ يـې پـه خپـل ورور سره کړې.

د اشغال سره سـم دېتـه ورتـه کـار ځينـو بـې وجدانه افغانانو هم وکړ. د اشغالګرو په ليکو کـې ودرېدل او د الله ج په ځای يـې د طـاغوت غلامـي غوره کړه. د يو څو ډالرو په خاطر يې، د واشنګټن کلکـه دفـاع وکـړه. پخپلـو افغانـانو پسـې بـدې راونغـاړلې او پـه ډېـرې بـې دردۍ سره يـې مظلـوم افغانان شهيدان کړل. اشغالګرو دومره وحشت ونه کړ، څومره چې خپلو افغانانو وکړ...

پښتو متل دی: څوک چې غلط ګرځي، غلط به پرځي!

دوی هم ټکرې وخوړې. د واشنګټن سـاتنې لپاره يې خپل سرونه قربان کړل، په دين، غيـرت او شرم يې سترګې پټې کړې. خپـل ځـان يـې خـوار و زار کړ، خپلې مېرمنې يې کونډې، مورګـانې بـورې او اولادونه يې يتيمان کړل. دوی هـم خپلـې پښـې، لاسونه او سترګې د پرديو په خاطر قرباني کـړې او د يرغلګرو د برخليک سره مخ شول!

څه وخـت وړانـدې د يـوه افغـاني سرتيـري ويـډيو رسنيزه شوه. يو سرتېری پکې ترسترګو کيږي، چې نيمه کوپړۍ يې د واشنګټن امنيت لپاره شيندلې ده، اوس په بازار او کوڅو کې خير غـواړي، ترڅـو د ورله غاړې کورنۍ پالنه پرې وکړي.

چا چې د خپل وطن سره خيانت کـړی دی او د اشغالګرو ملتيا يې کـړې ده، خـوار او زار شـوي دي، خپلو بادارنو يې پوښتنه هم نه ده کړې...

دا ټول د هغه قربانيو پايله ده چې، په ديـن او وطن مينو شـازلمو د خپـل ديـن او وطـن د فـاع پـه خاطر له ځانو تېر شول، خپل هډونه يې د خـاورو سره خاورې کـړل، بنـديخانې، زولنـې، ولچکـې او شکنجې يې وزغملې، زخمونو، دردونو، کړاوونـو، خپل، پردي، کور، کلي وطن پرېښودو ته يـې غـاړه کېښوده؛ خو پردي يې د ارام څاه ايستلو ته پرې نه ښــودل. د افغانســتان خــاوره يــې ورتــه سره تبــۍ وګرځولـه، ګـام پـه ګـام يـې پـرې کمـين، د مـاين انفجار بريدونه او تعرضونه وکړل.

نو اوس هم چې طالبانو ته فـاتحين نـه ويلـی کيږي بيا کله؟! حتما دوی فاتحين دي او فاتحين بـه کابل ته ننوځي! ان شاء الله تعالی!







## فولادي عزم

مهاجر

نه دي د زور جواب لري نه د خبرې ياره
دريځ دې ځار شم لکه کرښه د ډبرې ياره

جانانه ستا د خولې خبرې پر ما داسې لګي
لکه صندل لکه عسل لکه شکرې ياره

اوس دې غربيان په رسميت پېژني ګل طالبه
نور يې توبه، درسره نه وهي ډغرې ياره

راځه راځه د ازادۍ قدم را واخله اشنا
تا کړې نابودې د شيطان لعين لښکرې ياره

ستا فولادي عزم خونخواره نړۍ ماته کړله
د مرګ په دام کې دې ايسارې کړې ککرې ياره

قربان قربان شم استشهاده ستا له درونده ګزاره
اور دې پر ډېرو يرغلګرو کړلې زغرې ياره

د مهاجر غريب له ښکلي نازنين قلم نه
درته ډالۍ دې وي خوږې خوږې سندرې ياره

قاسم زهيب

دا مو ده غليمه د تفهيم او د افهام لاره
بله مو د توري د ټوپک او د قيام لاره

مونږه هم د صلحې هم د جنګ پر دواړو لارو ځو
دا د دې امت د ستر لارښود او ستر امام لاره

دا ځل ملنګانو طالبانو را ګير کړې يې
نه مني فطرت يې غلامي او د غلام لاره

ښه يې کړه روښانه او خبره تکه سپينه کړه
نه منو په هيڅ صورت مجهوله د ابهام لاره

ستړې دی ولس له جمهوري ډيموکراسي نظام
غواړي افغانان د اسلامي سوچه نظام لاره

مونږ د دين وطن دفاع کې هرڅه په ځان وړي دي
پل مو کړه په نره د څرخي پله او باګرام لاره

هر وخت به زهيبه دغه سپين لمر ته دعا کوو
نور يې ورکه کړې ان شاءالله له تور ماښام لاره



## مخ دې راواړوه

خواجه متقي

سترګې مې خوږېږي ګلابي مخ دې راواړوه
وه ګرانه طالب جانه جنتي مخ دې راواړوه

تږی دې دیدن ته یم زما ورک غازي جانانه
ډک له نازاوله خنداهیبتي مخ دې راواړوه

خوږې ازادۍ! راشه په موسکازمونږه کلي ته
راوړه خوشحالي اودبري مخ دې راواړوه

راشه په خیرراشه له کلي ورک بندي جانانه
څومره ښکلی ښکاري یوسفي مخ دې راواړوه

متقي خواجه دې انتظاریم له وختونو
راشه دښکلاامامه دخندي مخ دې راواړوه

## کلام

محمد داؤد همت

سرکې آخیري خبرې مه کوه
بس دجدایي خبرې مه کوه
ورورمې شه د دواړو سترګوتورمې شه
جار انتقامي خبرې مه کوه
هسې نه واټن موټرمنځ زیات نه شي
پرېږده تعصبي خبرې مه کوه
سولې، روغې جوړې ته را وړاندې شه
وراني ضرري خبرې مه کوه
څه به وشي وخانده راغاړې وزه
شوخي پیغوري خبرې مه کوه
ګوره درته سم وایي داودهمت ؟
نوري دکوچني خبرې مه کوه

## رنګ دیوالونه

صابرجان محصل

را تاو له زندګۍ دي د ژړا رنګ دیوالونه
ګلونه مرور دي د ښکلا رنګ دیوالونه

تیارو کي زندګي ده د یو چا په تمه تمه
سپوږمۍ اسمان کي نشته د رڼا رنګ دیوالونه

د ستورو له محفله چي سپوږمۍ ده کډه کړې
جفا شوه څومره ډیره د وفا رنګ دیوالونه

د کلي هاغه مست مازدیګری کلي کي نشته
چنار ګودر زخمي دی د کلا رنګ دیوالونه

خوښیو مو له زړونو هجرت کړی بلي خواته
د هجر په بمبار کي د خندا رنګ دیوالونه

صابره! امیدوار اوسه د رب و لوی کرم ته
عقبی په زړه کي ساته د دنیا رنګ دیوالونه









**بغلان او بدخشان كې ولس د بمباريو او توپچي بريدونو له وجې د سترو زيانونو او جنايتونو شاهد دی!**


امارت اسلامی افغانستان
کمیسیون امور فرهنگی
کلیز
۱۴۴۲ هق
توافقنامه
لا إله إلا الله محمد رسول الله
د حوت ۱۰مه
د اشغال د پای تړون
پیمان پایان اشغال
۱۳۹۹
۱۴۰۰ هش
2020
2021 م